کابل

دسرطان (۱۶)
۱۳۳۱ ش

۲۱۶



معظم تولواك داختر دلمانځه دادا کولو نه وروسته دعید گاه له مسجد څخه دراوتلو په وخت کښې

د کمکی اختر یوه منظره

پښتون څوك دی؟

چه ټیټال ، غوړه مالی او خوشامندی نه کوی .

چه پت پالل ، عزت ساتل ، پښتنو اله ټینګول پښتنی فرض بولی .

چه ننګ ، غیرت پښتو او پښتنو اله په پیسو نه خرڅوی .

چه د نورو په تحریك د پښتنو سپینې نه پریکوی .

چه د ځان دلوړولو او پنځو پیسو د پاره قومی او اجتماعی شیان تریښو نه لاندی کوی

چه په پښتو او پښتنو اله فخر کوی .

چه په پښتو ولاړوی ، پښتو وائی او پښتو روزی .

چه د مشرتوب په ځای کښی ځان مشر او د کشرتوب په ځای کښی ځان کشر بولی

چه د پښتون د عزت او حیثیت په ساتلو کښی قربانۍ ور کولو نه تیاروی .

چه ناموس غیرت او پښتنوالی تر مال ، پیسو او رتبی نه قربانوی .

چه ژوندون او ملازمت د عزت د پاره کوی او عزت د قوم د پاره غواړی .

چه د پر دو د پاره په قوم کښی ګوندی او نفاق نه اچوی .

چه د مشرانو احترام او په کشرانو زړه سوی کوی .

چه دروغ ، چوغلی ، ټګی ، درغلی ، غلا ، زنا ، ظلم ، تیری ، پردی مال خوړل غریب زورول ، چلول کول ، بډې اخیستل له پښتنوالی څخه مخالف بولی او په پوره ډول ترېنه ځان ساتی .

چه د قوم په خدمت کښی رشتین او د هیواد په ودانۍ کښی درد مندوی . (رشتین)

د (۲۲) کال (۸) گنه

کابل

پنځلس ورځنۍ مصوره

ادبي، اجتماعي، تاریخي مجله

دپښتو ټولنې د عمومي مدیر

صدیق الله رښتین

ترکتنې وروسته خپرېږي

دسرطان (۱۶) ۱۳۳۱ ش

د کمکي اختر (۱۵) ۱۳۷۱ ق

دجولائي (۸) ۱۹۵۲ ع

پته:
پښتو ټولنه
کابل
افغانستان

دتیلفون لمبر
۲۰۴۷

دکابل په ښار کښې ۳۶ افغانۍ

په دننه هېواد کښې ۴۰ افغانۍ

په نورو ملکو کښې ۴ ډالره

داشتراک قیمت:

ددې ګڼې ليکنې

ليك	ليکونکی	مخ
دجنوبی ولايت	ښاغلی رشتين	۱
دامريکا انتخابات	« شفيق	۷
دننګرهار ګلونو مړاوی مشی	« بلبل افغان	۱۲
زمونږ کاروان	« عزيزی	۱٤
عاشقانه ليك	د « مهذب (ترجمه)	۱٦
توده وينه	« لونګين	۱۹
دوينو څاڅکی	پېغله مستوره (داسمارله شال څخه)	۲۱
څلوريځې	ښاغلی فهيم	«
زه خوئې وايم	« قتيل (خوږيانمی)	۲۲
کليله او دمنه	د ښاغلی سيفی (ترجمه)	۲۳
دژوند کولو هيله	« نورمحمد خان ترکی (ترجمه)	۲۸
د پښتو قصې	ښاغلی رشتين	۳۳

د جنوبی ولایت

دثور په ۳۰ زه هم د شمالی او جنوبی پښتونستان د تاریخی جرگی سره د جنوبی ترارگون پوری لاړم. دا جرگه شپږ ورځی په جنوبی کښی وگرځېده: جنوبی دلویو قومونو لکه احمدزو، منگلو، ځدرانو، علی خیلو او نورو له خوا ئې په ډېر جوش هر کلی وشو، مېلمستیا گانی ورکړې، ونمانځلی شول، عزتونه ئی ورکړل او بیا دغه جرگه د وزیرستان په اورگرویك ته لاړه. هلته د جوزا په ۸ د منځی پښتونستان له رئیس فقیرایپی او نورو مشرانو سره جرگه شول او ځینی مهمی فیصلی ئې وکړې چه د کابل مجلی په تېره گڼه کښی نشر شوې. د دغی جرگی مفصل حال په اخبارونو کښې لیکل شوی دی. زه دلته غواړم چه د جنوبی ولایت د وضعیت، معارف او نورو غټو غټو شیانو په باب کښی خپل مشاهدات گرانو لوستونکو ته وړاندی کړم

دلوگر دلری حکومت له (التمور) نه چه سړی ورتېر شی نو د تیری کوتل شروع کیږی دا کوتل د جنوبی او لوگر ترمنځ برید دی. په دغه کوتل باندی د جنوبی ولایت ته سړك اوښتی دی، لاکن په کښته حصه کښی ډېر واړه واړه گوټ پیرونه لری، د سړك پلن والی هم لږ دی چه لوئی درنی اوبار لرونکی لاری پرې په ډیرې سختۍ خیژی، په دی غاښی کښی اکثراً له لارو څخه مالونه کوزوی او تشی لاری پرې خیژوی، دژمی په واورو کښی ورباندی دموټرونو لارو تگ راتگ گران او له خطر نه خالی نه دی - په دې لحاظ د تیری د کوتل سړك ته پوره توجه پکار ده چه څه قدرارت او گرځاندی ئې اوزده شی. د تیرې د کوتل نه چه سړی واوړی نو هغه پلو سړك نسبتاً اوار کوز شوی او د تیری په خوړ کښی گردیز ته وتلی دی. زه چه کوم وخت گردیز ته ورسیدم نو مازیگر می د ملگرو سره د گردیز د ښار، بازار او ودانیو د لیدلو اراده وکړه زه تقریباً لس کاله پخوا د ۱۳۲۱ کال په حمل کښی دوړانگی دا خبار د تاسیس د پاره گردیز ته تللی وم - لس کاله پس چه ما په گردیز کښی څه نوی شیان ولیدل هغه دادی.

۱ - دبازار په جنوبی سر کښی د گردیز دسیند دپله سره نزدې یو عصری حمام چه په ۱۳۲۱ کښی شروع شوی ؤ اوس جوړ شوی‌دی او خلك ترې پوره فایده اخلی .

۲ - دحمام سره نزدی دسیند په‌غاړه دبرېښنا یووړو کی (توربین) پکار اچول‌شوی دی چه تقریباً څلویښت پنځوس څراغه برق ورکولای شی .

دا توربین د ښاغلی محمد ارسلان خان سلیمی په کوشش چه هغه وخت د جنوبی د مطبوعاتو مدیر ؤ نصب شوی‌دی لاکن داوبو دلږوالی په‌وجه ئې ترقی نه‌ده کړی .

۳ - د گردیز په‌بازار کښی دری لو دسپیکرونه او یوپه بالاحصار کښی لګیدلی دی چه د کابل رادیو خپرونې پکښی خلك اروی اوفایده ترې اخلی .

٤ - دښار قبلی طرف ته دمینه وړی باغ په‌نامه یو لوی باغ جوړ شوی دی چه ښه سړکونه پکښې تیرشوی‌او نهالونه پکښی ایښودل شوی دی .

٥ - دزاړه ښار قبلی خواته د نوی ښار نقشه اچول شوی ده مگر تر اوسه پکښی زیاته ودانی نه‌ده شوې .

په گردیز کښی دملکی او عسکری شفاخانو اود منځنی مکتب ودانۍ دلیدلو وړدی چه‌لس کاله پخوا جوړې شوی دی . د گردیز ښایسته اوښکلی بالاحصار چه په لوړه پروت دی د گردیز په ښایست کښی زیاته برخه لری ، د گردیز دبازار په منځ کښی دسرك په دواړو غاړو د اکاسی دونو ننداره اود هغو د گلونو خوږه وږمه یونوی زړه خوشحالوونکی شی دی .

کوم شی چه زه په گردیز کښی ډیرخپه کړم‌هغه دمطبوعاتوسوځېدلی عمارت‌ؤدمینه‌وړی باغ په خوا کښی یووړو کی مگر ښائسته عمارت‌چه‌داوسپنی څادرونه پری‌اچول‌شوی‌وو دمطبوعاتو مدیریت ته‌ور کړ شوی ؤ مگر تېر کال‌ئی اوروا خست او وسوځېد ددې عمارت کوټې لااوس هم دفایدې اخیستلو وړی نه دی .

د گردیز لمرخاته او شمال خواته داحمد زورود دی، دارود ښه ودان اوسمسور دی داحمد زو په رود کښی مکتب هم‌شته دجوزا په۲ چه د احمد زوله خوانه دپښتو نستان جرګې ته دخواجه علی صاحب په‌زیارت کښی درنه میلمستیا شوی‌وه په‌هغی کښی ددغه

ځای دمکتب هلکانو په خوږ آواز دوه خو ندوری تر انې وویلی او د خلکو ډېری خوښې شوی چه په دی وجه حاجی محمدحسن خان دمومندو دشوری رئیس دغو هلکانو ته (۵۰۰) روپۍ انعام ور کړې.

داحمد زو درودنه چه سړی مخ په لمر خواته درو می نو بیا (سید کرم) ته رسیږی داعلاقه دطوطا خیلو ده چه دجنوبی یومشهور غیرتی قوم دی د(سید کرم) شمالی لوری ته دځالحیوله خوا راغلو غرونو په منځ کښی (مچلغو) پروت دی دانوم هر چا اور ېدلې دی او کافی مشهور دی دغلته ځو کا له پخوا دیو بند دجو رولو بند وبس شوی ؤ لا کن تراوسه ئې سراوبر معلوم نشو دمچلغو نه را کښته ان تر گردیز پوری داحمد زو درود په شمالی څنډه یولوی دښت غزیدلی دی که چېری دمچلغو بندجوړ شی اودغه دښت داوبو لاندی اوودان شی نو دجنوبی ټولوبی ځمکو او غریبو خلکو ته پکښې ځمکه رسیدی اوتول پرې آبادیدی شی دجنوبی اکثر خلك خصوصاً منگل، ځدران اوځالحی په غرونو کی اوسیږی دوی ځمکی اوپټی نه لری یوالحی دغرو په لر گو، ونو او بو تو گوزاره کوی له دې کبله ددوی اکثر جنگونه اومر گونه په پر له پټی او ځمکه کیږی زیات خلك دځمکی دنښتوالی اولوزی اوغریبی په وجه دخواری مزدوری دپاره نورو ملکونو ته درومی دې خبروته چه و گورو نودمچلغو دبندجوړول له ټولوبندونو څخه زیات ضروری بریښی.

وایی چه ددغه بند په کار ډېر لگښت هم شوی دی لا کن اوس ئې په کومه وجه کار معطل شوی دی ښایی چه مسئول خلك دې خبری ته پام و گرځوی اود جنوبی ولایت دودانی دپاره اساسی قدم واخلی. دطوطا خیلو دعلاقی په شرق او جنوب کښی منگل اوپه څه حصه کښی ځندران دی دمنگلو دعلاقی دروازه (میرز که) نومیږی چه د منگلو د گنو ځنگلی غرونو په خوله کښی یومشهور ځای دی دا ځای دنښتر دلو یولر گو دسودا گری مرکز دی دلته دودانی غټ لر گی اوچار تراش جمع کیږی اوبیا په لارو موټرنوو کی د گردیز په لار کابل ته راوړل کیږی دجنوبی مهم او غټ پیدا وار لر گی اودغره دونوبوټو حاصلات دی دجنوبی زیات لر گی د کورمی په لار محکوم پښتونستان ته هم ځي. میرز که دنجاری دیوې لویې کارخانی دپاره ډېرښه مناسب ځای دی که چېری

دغلته یوه لویه کارخانه ودریږی نو دجنوبی خلك به تری ډیره گټه واخلی بی کار واوغریبو خلکو له به پکښې کار پیدا شی او زیات خلك به دمزدوری دپاره دنورو ملکونو له تلو څخه خلاص شی له بلی خوانه به دجنوبی لرگی یو په لسه قیمت پیدا کړی او گټه به ئې تو له ددوی په خپل جیب کښې ولویږی. په میرز که یا دجنوبی په بل کوم ځای کښې دنجاری او حتی دحجاری د کارخانی جوړول ډیر ضرور دی ښایی چه دې خبری ته توجه وشی او د عملی کولو دپاره ئې قدم واخستل شی . ددې کارخانی په وجه خلك دمدنیت سره هم آشنا کیدی شی کسب او هنر هم زده کولای شی او دمکتب او تعلیم شوق هم پکښې زیاتیدی شی . په میرز که کښې دقدیمی سکو یوه لویه خزانه پیدا شوی وه چه څه سکی ئې د کابل موزیم ته راوړلی شوی دی اولا پوره څېړنه پکښې نه ده شوی .

د گردیز لمر پریواته لورته دزرملی علاقه ده ، په دې علاقه کښې علی خیل او نور قومونه اوسیږی ، ددې ځای خلك هم ښه غښتلی پښتانه او په اسونو ساتلو ، سوار کاری او نیزه بازی کښې مشهور دی . دجوزا په اول چه دزرملی دخلکو له خوا دپښتونستان جرگی ته میلمستیا شوی وه ددوی ځوانانو اوسوار کارانو ډیری زور وری نیزی وو هلی. دزرملی دمکتب هلکانو هم ښی ترانی وویلی مگر سرښوونکی ئې په پښتو ښه نه پوهېده د زرملی نوم دفارسی میرزایانو په (زرمت) بدل کړی دی حال دا دی چه (زرمت) هیڅ معنی نه لری نو پکار دی چه په دفتر کښې هم د زرملی نوم استعمال شی دغه شان د (ځدران ، ځاځی ، څمکنی ، ازری) نومونه چه میرزایانو په (جدران ، جاجی ، چمکنی آزرو) اړولی دی هم غلط دی او باید په اصلی شکل استعمال شی . د زرملی په منځ دار گون په لور یو نوی سړك تللی دی دا سړك په ۱۳۲۹ کښې دښاغلی غلام رسول خان تنظیمیه رئیس په کوشش او توجه ویستل شوی دی مگر دغزنی دشرنی دحکومت په حصه کښې نیمگړی پاتی دی . وایی چه دا سړك دار گون له پخوانی سړك څخه چه په دښت او وچه کښې تللی دی ډیر لنډ او د امن په دایره کښې داخل دی . دغه نوی سړك د سرکی ، او متاخان په علاقه کښې د (او گودر) په دښت تېر شوی او د (او گودر) دچینی نه لږ بر دغزنی او ار گون دسړك سره یو ځای شوی دی . د متاخان علاقه داری

د تېرې دغاښې په سر يو ماشوم خپلو محترمو ميلمنو ته دهر کلي مقاله لولي

دحضرت خواجه علی (رح) په زیارت کښې داحمدزیواو طوطاخیلو ننګـا لی خلك دخپلو محترمو میلمنو استقبا ل کو ی

چه خلك ئې اندړدی دجنوبی په ولایت پوری تړلی ده او نور اندړ په غزنی پوری نښتی دی.
دار گون او گردیز ترمنځ د (سرروضی) علاقه داری ده ، په سرروضه کښې یوابتدائی
ښوونځی هم شته او خلك ئی اکثر خروتی او سلطانی دی . سرروضه او سلطانی ډېرې ښی
روانی او ښی اوبه لری ، غرونه ئې په شنو ونو او بوټو ښایسته ښکاری .

د زرملی ، متاخان په برخه کښې ډېر لوی لوی دښتونه بی اوبو وچ کړس پراته دی
دا ملك مخ په پورته تر وازی خوا پوری پراخ او ارت پروت دی ، پراخه فضا
او ارت میدانونه لری ، دا ملك د کاریزونو دپاره ښه جوړ دی ، کر کرونده او زراعت ئې
د کاریز په اوبو دی وایی چه په یولك دولکو روپو پکښې کاریز ویستل کیږی - که چیری
لږ ه پانگه ددې علاقی دودانۍ د پاره په کار واچول شی او کاریزونه وایستل شی
نو ډېره ځمکه پکښې د اوبو لاندی کېدی او ډېر کرچی قومونه پکښې ودانیدی شی .
په دې علاقه کښې ونی او بوټی ډېر لږ دی ، ښایی چه د ونو زیاتولو ته هم توجه وشی
ځکه چه دونو په وجه هم د ملك هوا ښه کیږی او هم دسولو او ودانۍ لرگی ډېریږی .
دار گون او گردیز ترمنځ تقریباً دموټر درې ساعته لارده ، دځدرانو دغرونو لړۍ قبله په
نمر خواته اوږده تللی ده ، ددې لړۍ سویلی خواته په هواره کی دار گون ښار پروت دی
دار گون علاقه لا دری خواوڅه په غرونو کښی را گیره ده یواځی سویل خوا ئی د درې
په شکل خلاصه ده چه دادره گرملې ته وتلی ده او له هغه ځای نه یه (وانها) باندی ډېره
اسمعیل خان نه رسیدلی او دتلورا تلولو یه تاریخی لارده .

دسلطان محمود په وخت دپښتنو لښکری په دې لار هندته تلی راتلی - هغه وخت کښی
یوه پښتنه پیغله وائی :

چه د خالو لښکری راغلی زه به گومل ته دخپل یار دیدن له ځمه

ار گون اوس دیولوی حکومت مرکز دی او دځدرانو دسپیری او د گرملی او سروتی حکومتونه
ورپوری مربوطه دی . دار گون په لمر خواته لوری دوزیر وعلاقه ده چه په دې برخه کښی (گرویك)
ته دپیاده ولار تللی ده . دار گون په لوی حکومت کښی ځدران ، وزیر ، خروتی او نور قومونه اوسیږی

دار گون نوم اکثرو ژب پوهانو داوستاله (اروا) سره تطبیق کړی دی . اروه ، اروا ، داوستاله له شپاړسو ولایتو نو څخه یو ولایت ؤ . ځینو خاتیځ پوهانو د (اروه) نوم هم له ار گون سره په ریښه کښی نښلولی دی چه د پښتنو غرنۍ علاقی ته وائی په ار گون کښی هم اکثر زراعت د کاریز و نو په او بو کیږي .

په ار گون کښی یو نا اشناشی د پټو په منځ کښی د برجونو جوړول دی ځای په ځای په پټو کښي برجونه لیدل کیږی . وائي چه دا برجو نه ددی د پاره دی چه څوك د شپې او به لګوی نو یو سړی ورته پیره دار دوسلی سره په برج کښي ناست وی او داوبه خور د سړی څوکۍ کوی چه څوك ئې مړ نکړی په ار گون کې یو وړو کی بازار هم شته ، د عسکری چونې باغ او عسکری کلوب پکښی ښه ښکلی او دستا ینی وړ ځایونه دی . په ار گون کې درې ابتدائی ښو نځې شته خو تعلیم ئې په فارسی دی . د ار گون د ښار خلك څه ماته گوډه ورانه ویجاړه فارسی وایې نو په دی وجه بی له کوم غور څخه د دغه ځای په مکتبونو کې فارسی ورننویستل شوی ده . باید مسئول خلك دې خبری ته پام وکړی او دار گون منطقه په زور د فارسی په منطقه کې را نه ولی دار گون خلك ټول په پښتو ښه پوهیږی ، د دوی کړه وړه ، عادات ، دود دستور لباس او جامی ، ناسته ولاړه هر څه د پښتنو دی او کومه ماته گوډه فارسی چه وائی هغه هم د پښتو سره گډه ده ماچه څو مره معلومات و کړل نو خلك هم د پښتو په تعلیم خوښ دی له دې کبله ښایی چه د دغه ځای هلکانو ته په پښتو تعلیم ور کړی شی . د جنوبی په مکتبونو کی ځینی معلمان او سر معلمان په پښتو ښه نه پوهیږی هر کله چه دا خبره د پښتو د تعلیم په حصه کې یو لوی نقص دی باید د دې نقیصی لیری کولو ته هم توجه وشی او دا سی معلمان او سر معلمان ورمقرر شی چه پښتو ئی په ښه صورت زده وی . په جنوبی کی د معارف مدیر هم یو دغسی سړی پکار دی . سربیره پردی په جنوبی کی دیو لیلیه مکتب جوړول هم ضرور او لازمی بریښی ، ځکه چه خلك غریب دی او پخپله ئی جګ تعلیم ته وس نه رسیږی . داؤد جنوبی په ولایت کښی زمالنډه غوندی مشاهده . (رشتین)

ښاغلی محمد موسی «شفیق»

د امریکا انتخابات

د ورځی د موضوعاتو په لړ کې نن بېرون د امریکا په متحده ممالکو کې د انتخابا تو د شروع کېدو مسئله ډېره مهمه ده ، د دنیا مشهور او غیر مشهور جرایدو او اخبارو نه ټول پدې باره کې مختلف مضامین او مقالې نشروی او دم په دم د تازه خبرونو نه دنیا خبردی نه لېږعاتو سر مقالې او ژومبی ستر نوټر غالباً د دې موضوع د پاره تخصیصیږی او شاید په نن شپو ورځو کې د اخبار کمه گټه پیداشی چه په دې متعلق یو خبر ، نیم و ذ اری - هو البته د اموضوع د دې نه په زیاتو هنگامو او ددی نه ، په ډېر پر جوشه استقبال ارزی ځکه نن تقریباً د ټولې دنیا او بیا خاص د نیم غربی نړنداری (کړی) سر نوشت مستقیماً د امریکی به سیاست پورې تړلی دی ، نن چه دنیا د تخنیك او صنعت به باب کې د ډېره فوق العاده ترقی کړ بده که امریکا میلان ولری ، یقیناً د ادبشر د لاس شاهکاری به هم دده د تباهی د پاره په ډېره اسانی و سائل راټول کړی - په دې خطرناکو تناد مرنو کې چه نن د شرق او غرب په پهمنځ کې موجود دی او پدې مهلکو اختلافونو کې چه هر دم د امنیت پر ښته تهدیدوی که د تازونی ژومبی سړی چه د جمهوری رئیس نه عبارت دی یو صالح او سرلا غر ښتر نکی بنیا دم وی نو البته ، چه انسان به د راحت او هوسائی ژوندون ووینی که دا خوب دروغ و خیژی نو بې شکه چه د دنیا ظالمان او مظلومان ، جنگیرك او بیا لرفان به ټول دیو د اسی عالمگیر جنگ اورته ولوېږی چه د هغی کلاری به بېله دې چه د دنیا تباه کړی په بل هیڅ شی ونه شی - نو نظر همدی ته چه د امریکې د راتلونکی جمهوری رئیس دستر گړپه اشارو پورې د سولې او جنگ مقدرات تړلی دی ، ځکه نن د دنیا هر اوسیدونکی د هغې سره د لچسپی لری او پدې متعلق تازه خبرونه او معلومات د ډېر ښه تعقیبوی - په دې کرښو کې د کابل د مجلې د لوستونکو د پاره په دې موضوع باندې څه لږه ډېره رڼا اچوئ امیددې چه د دوی د سر گرمی سبب شی -

دامریکا پهمتحدو اضلاعو کی داستقلال دتاریخ راهیسې دوه قوی حزبونه موجود دی چه یو دجمهوریت غوښتونکو اوبل ددیموکراتانو دی ، که څه هم امریکایو ډیر لوی صنعتی مملکت دی مگر هلته د کارگرانو دحزب هیڅ غگ غو گ نه خیژی اوسړی گمان څه چه یقین کوی چه امریکا د کاریگرو حزب نلری مگر خبره په دې ځای کې ده چه که دحزب پهتعریف کې دا قیدضروری وی چه هغه دې ضرور پهسیاست کې اساسی مداخله کوی نو امریکا د کاریگرو کوم داسې حزب نلری چه هغه دسیاست له دنیا سره تینگ، علاقه ولری اودحکومت پهسیاسی خط مشی پسې سوی رنا کړی او که بیله دې قیدنه هم حزب موجودیت موندلی شی نو بیاپه اتازونی کې د کار گرو دوه حزبه موجود دی چه یو ته په (C.I.O) اوبل ته په (A.F.L) باندې اشاره کیږی اودا احزاب عموماً د کار او کاریگری په مسائلو باندې بحثونه اوتولنې کوی ، که څه هم کله کله داجمعیتونه پهسیاسی موضوعاتو کې مداخله کوی لکه چه دې دویم حزب څومره پخواپه « فلوریدا » کې جرگه و کړه اوهلته ئی دمصر په مسئله کې دمصرسره دامریکا ملاتړی دپرنګیانو پهمقابل کې تائید کړله ، مگر دغسې واقعات ډیرنادر وی اود دوی عمومی مشغولیت پهخاصو کاریگری مسائلو کې ډیر دې — ددې لنډې توضیح نه به تاسې ته معلومه شوې وې چه ولې دامریکې د کاریگرانو دحزب څه نوم اونشان نشته اوولې په انتخاباتو کې ددوی د کاندیدانو پته نه لګیږی —

پهامریکا کې یوبل حزب هم د « مترقی حزب » پهنامه شته دی چه د تو لرنه نژدې تاریخ لری، ددی حزب موسس مستر « والدس » دی والس دروزولت په دوره کې د جمهوری رئیس نائب ؤ اودده پهسیاست کښې د روسیی خواته میلان ډیرمعلومیږی اوهمدا وجه ده چه دده حزب په امریکا کی د کین لاس د حزب په نامه تو مټی شو اوهیڅ کامیابی ئی نصیب نه شوه نوځکه پدی انتخاباتو کې د دغه حزب دپاره هم کوم امید نشته ـ طبعاً میدان دیموکراتانو اوجمهوریت غوښتونکو ته خالی پاتی شواومعلومه بهشی چه پهدی مبارزه کی څوک میدان وړی - پهدواړو خواؤ کی ښه قوی او موثر شخصیتونه موجود دی چه دامریکا پهملت کی ډیر فدائیان او هوا خواهان لری - کوم

په میرز که کښې دمحترمو میلمونو دستړی مشی یو منظره

په گرویك کښې دمنځنۍ پښتونستان یوه ډله ځلمیان دخپلو محترمو میلمنو داستقبال په حال کښې

حزب چه فعلا د کار په کرسۍ ناست دی ددیمو کراتانو حزب دی چه مستر ترومن
دا تازونی او سنی جمهوری رئیس د هغه مشر دی او دا یو زینی حزب دی
چه په امریکا کی دومره اوږده موده یعنی (۲۰) کاله مسلسل حکومت
کوی، یو شمیر ډیر مبصرین اوس هم دوی ته ډاډ گیر نه ورکوی
چه راتلونکی انتخابات هم ستاسې په فتح تمامېږي، دا امید په دی خبره تکیه کوی
چه په دې دوره کې امریکا په یولوی عالمگیر جنگ کې فاتح و پېژندل شو او نن
د ټولو دیمو کراتو دولتونو عمومي مرکز شمېرل کېږی مگر دبلې خوانه د داخلي اداری
فساد او نیمگړتیا او مخصوصاً در شوت ډېروالی او په تېره بیا اروپا ته دد و مره اقتصادی
قرضو ورکول چه دهغې دبرته اخیستو هیڅ امید نشته، دا غواړی چه ترومن او د
دیمو کراتو حزب دې حتماً کرسۍ خوشې کړی، ددې ټولو نه مهم گوزار چه دامریکا ملت
به ئی په انتخاباتو کې ددیمو کراتو په گوند وکړی هغه د کوریا په بیفایدې جنگ کې
د امریکا د خزانې او نفوسو فوق العاده خساره ده چه دهغې جبران بالکل ناممکن دی
اولا امریکا مجبوره ده چه نور تاوان هم وگالی ترڅو چه دا جگړه تمامه شي- دیمو کرات
گوند فیصله کړېده چه که ترومن رشتیا د خپلې داوطلبۍ نه لاس وا خلی نو دوی به
سناتور «کیفوفر» ته چه ٤٥ کاله عمر لری رائی ورکړی، دا کثر کاندید چه نن دامریکې
د جمهوری ریاست دمقام دپاره داوطلب دی، هیڅ گمان نه شی کېدی چه دی به په خارجی
پالیسۍ کې د ترومن د فکر مخالفت وکړی، هو! لبته د داخلی اصلاحاتو
انتظار معقول دی - جمهوریت غوښتونکی په دې انتخاباتو کې د کامیابۍ ډېر امیدلری
ځکه دامریکا ملت شل کاله دیو حکومت لاندې، که څه هم ډېر ښه وی، حتماً ستړی
کېږی نو باید جمهوریت غوښتونکی داخل میدان ویسی - ددوی دحزب نه دوه کسه
داوطلبان موجود دی چه یو جنرال آیزن هاور دا تلانتیک دتړون دغړو ممالکو دعسا کرو
دقوماندانۍ عمومی قوماندان او ددویمې جگړی فاتح دی او بل سناتور «تافت» دامریکا
یو معروف شخصیت دی چه دژبې او لهجې په صراحت او دبیان په آزادۍ ډېر شهرت لری

جنرال آیزن هاور چه دده دنامه نه نن په اروپا او امریکا کې ډېر زړونه ټکان خوری دامریکا ډېر یومشهورعسکری جنرال دی ، دی تقریباً (٦١) کاله عمر لری او دډېرې ځلاندې سابقې خاوند دی ، مخصوصاً کوم شی چه ده ته ئی دومره لوی شهرت اومحبوبیت و گاټه هغه دنورماندی په میدان کې دده مشهوره فتحه ده ، دی یوداسې جنرال دی چه په جنگ کې دنورو جنرالانو غوندې یواځی دآمریت ددیکتا توری نه کار نه اخلی دی ډېرپوه اوصادق سړی دی او همېشه دخپلو اطرافیانو مشورې ته ډېر ښه غوږ نیسی ده په بحری اوبری دواړو څانگو کې تحصیل او کار کړی دی ، څو موده په ۱۹۳۵ کې کله چه میکارتر په فلپائین کې دآمر په حیث کار کاوه ، دی دهغه معاون ؤ اودهغه سره ئی ددې نه پرته هم ډېر وخت دامریکا په اوردو کې یوځای کار کړیدی مگر دده لیاقت او کفایت دهغه نه زیات دی - رئیس روزولت په تېره عمومی جگړه کې دی دټولو غربی ملگرو دولتونو دقواؤ عمومی قوماندان مقرر کړ او ترومن هم ده ته داتلانتیک دقواؤ دقوماندانۍ موقع ورکړه - لږه موده پخوادی په کولمبیا کې دیوپوهنتون رئیس ؤ او د امریکا دپاره ئې راتلونکی ځوانان تربیه کول چه دامریکا ملت په هغه شق کې هم دده په کفایت اعتراف وکړ - مقصددا چه په موجوده اوضاعو کې دټولو داو طلبانو نه د آیزن هاور چانس ډېر دی مگر مبصرین وائی چه که دی کامیاب شی نود امریکا په سیاست کې به کوم ښکاره تغیر رانه شی ځکه چه دی سره لدې چه دجمهوریت غوښتونکو دډلې عضو دی مگر په امریکا کې په حزبی نظامونو کې چندان ډېر تشدد او سخت گیری نده موجوده او فقط چه یو سړی ووائی زه جمهوری یادیمو کرات یم هم دا خبره دی په یو حزب کې داخلوی ، نو ډېر کسان پدې عقیده دی چه شك نشته چه آیزن هاور ددیمو کرات له خوا داو طلب شی ، دترومن دسیاست تعقیب او په ده باندې دترومن اوروزولت اعتماد ددې خبرې لوی شاهد دی لیکن که سنا تور تافت میدان ویسی نو یقیناً به صحنه بدله شی او دامریکا سیاست به کاملاً تغیرو کړی ، تافت د صریحې لهجی خاوند دی او دده همدغه صراحت سبب شو چه کاریگرانو

تصمیم ونیو چه دی د ۱۹٤۸ په انتخاباتو کې ناکام کړی ځکه چه ده یو قانون جوړ کړی ؤچه دهغوی حقوق ئی کمول - تافت په ټوله معنی یوجمهوریت غوښتونکی دی، دجمهوریت غوښتونکو غټه علامه داده چه دوی په داخلي سیاست کې دپرنګیانو محافظه کارانو ته ډېر ورته دی او په خارجی پالیسۍ کې اعتزال اوا نزوا ته میلان لری، ددوی نظریه داده چه امریکا دې اروپاته هیڅ قسم لاس نه اوږدوی او دهغوی په کارونو کې دې دو مره مداخله نه کوی اوپه دې اساس د کوریا جګړه اواروپاته مالی اوعسکری امداد ددیمو کراتیانو فاحشه غلطی ګڼي- بناء پردې د« تافت » نه مبصرین دا امید کوی چه دی به دامریکا لمن دیورپ نه راټوله کړی، د کوریا جګړې ته به خاتمه ور کړی او وروسته پاتې مللو په حقوقی جګړو به حق او ناحق دانګریزانو او فرانسویانو ملګر توب ونه کړی.

دداوطلبانو په لړ کې دوه کسه نورهم د« آرت وارن » او « ستاس » په نامه باندې یادیږي چه پدی ترتیب ددوی عمومی شماره تر اوسه پینځو ته رسیږی او یقیناً ددوی په منځ کې جنرال آیزن هاور داولیت اوسناتور « تافت » ددویم توب مقام لری ولیدل شی چه له دی پنځو کسونه دچا کډه دسپینې ماڼۍ په لور بارېږي اوڅوک ددنیا دیولوی براعظم اوپه غیر مستقیم صورت سره دنیمی غربی کرې دا داری واګی په لاس کی نیسی - نن دنیا دامریکا دملت دصداقت امتحان اخلی، وکتل شی چه دوی پخپله په دی پنځه کلنی ازمیښت کی نا کامیږی که کامیابیږی؟ ددوی کامیابی په دی کی ده چه هغه سړی ته خپل حیات ور وسپاری چه هغه ددنیا دپاره د امنیت او سلامتۍ کوشش وکړی او دنیا دجنګ اوبد امنۍ داورنه لری وساتی، او ددنیا ټول اوسبدونکی بی له امتیازه یو شان وګڼی اوهغوی ته په مساوی حقوقو قائل شی- داشیان دی چه دامریکا دملت مقام ددنیا په ستر ګو کی دمعنی په لحاظ ډیر جګ ساتی او هغوی دپاره په جهان کی دیو عمومی محبوبیت ضمانت کوی (لعل الله یحدث بعدذالک امرا)

د ننګرهار ګلونو مړاوی مشی!

د جوزا داوږدو ورځو، او د رمضان شریف په فرصت او فارغ اوږدو مطالعاتو کښی مې ستاسی شکلی سلسله - ستاسو ښایسته شجره - په خوږه منظومه د ښاغلی مطیع الله (چمبیلی) په قلم د تیر کال د کابل مجلی په ۲۹۶ ګڼه کښی په پوره دقت ولوستله - زه نشم ویلی چه د غه اثر، په ما څه تاثیر وکړ !!! دا څه کیف ؤ؟ دا څه نشه وه؟ د جنت هوا وه که د ښا پیرو شرنګ ؤ؟ که د شراب ګوټ ؤ؟ هك پك شوم د ځان نه می پوښتنه وکړه چه دا څه فوق العاده سرور او نشاط دی؟ عقل ځواب راکړ چه لږ په سدشه عادی شیونو ته فوق العاده مه وایه - هر نا مراد د مراد وږمه، هر عاشق د معشوق خوږی خبری، هر پښتون د پښتنو ویښوالی، هر ننګرهاری د ننګرهارو دانوالی، هر بلبل د ګلونو شته والی همدغسی خوشحاله کوی لکه دا ته دا عادی خبره ده فوق العاده نه ده - ګلونه هم څنګه ګلونه؟ دغسی ګلونه - چه د پښتونستان هنګامه په دوی توده ده - د پښتنو ټولنه په دوی راټوله ده - د کابل مجله په دوی سایسته ده - د پښتنو احساسات دوی ویښوی - د پښتو ادب او ادبیات دوی ښایسته کوی - په حماسی او رزمی او بزمی او نورو ټولو ملی مضامینو کښی طاق دی - د زړونو حاکمان دی - د روح طبیبان دی - پښتو وائی - پښتون ستائی - د پښتو ژبی په ټولو معانیو تکمیل غواړی - په خپلو ناروغتیا ؤ پوه شوی دی - څه نه څه شافی نسخو پسی هم ګرځی مړه پښتو ژبه د ژوندو ژبو: او پښتون د ژوندو قومونو په صف کښی ودرول، او ملی وحدت او لوی پښتون جوړول غواړی - ښه نو ړوند له خدایه څه غواړی؟ دوه سترګی - بلبل افغان خو یو وخت داسی حد ته رسیدلی ؤ چه ویلی وو:-

پښتانه مړه پښتو میراته ... ما د میراتو مرسته کړه میراتی شومه

د یو مضمون یا یوی مقالی لیکل ورته د کویمر د غره خاته وه - ولی د ننګرهار د ګلونو قصیده کښی څه داسی تاثیر وو چه یو واځی دغه دوه بیتونو د مطلع او مقطع ئی:-

چه هر مرض ته وی یکار هغه دوا هم شته دی ... چه غلیمان پری سوزوم هغه بریښنا هم شته دی
د ننګرهار د ګلو شمیر ما (چمبیلی) وکړلو ... دا خو لا څه کی، چه د دینه لاسوا هم شته دی

د ده د ناروغتیا پیریان پاڅول - او دانا امینده ناروغه په دی خوږو زیرو امیندوار او بیا په چغار راغی:-

د سپینې خولی قول دی راکه ... که د چړو په څوکو لاروی دربه شمه

د ناروغو دعا قبلیږی او قبوله ده، زه بیا وایم چه د ننګرهار ګلونو مړاوی مشی - دا د قبلیدو نښی دی چه تاسو د د رانه خو به ویش شوی بینا شوی - د سلو تنو د ننګرهار ګلونو خوره وره سلسله ټول سره پیژنئی - ټول د روحي وحدت آؤ قلبی محبت په کلك زنځیر تړلی نه بیلیږی بنیان مرصوص جوړ شوی - خپل خپلوان سره خپل شوی پاستی - په سیستان کښی یو ښاغلی د ردمند ننګرهاری که هم دا صفهان نصف جهان یو لې ته لنډ شو یدی خو په اسو ظاهري او باطنی حواسو همدغه خپل ننګرهار یانو ته متوجه آؤ وائي:-

آی گرانه بختانیهٔ ستا شعرونه خوښوم — دسیال آؤ درشتین ښه تقریرونه خوښوم
هوادسپینی غری آؤ دکونړدسیند موجونه — خادم اودالفت مجروح فکرونه خوښوم
سندره چه شروع بلبل افغان کړی دلعلپوری — دښکلی ننګرهار دغره سرونه خوښوم

ښاغلی بختانی چه دننګرهار په مرکز کښی واقع دی دټولو ننګرهاریانو داحساساتو ترجمانی په دی عباراتو ورته کوی آؤ ددردمند دغه دجمعیت آؤ دهمدردی احساسات ستائی :-

دردمنده اوردمندان دستاشعرونه خوښوی — رشتین الفت دمینی مکتوبونه خوښوی
چه درداو محبت اوملیت پکښی موجودوی — دزړونو خاوندان دغسی زړونه خوښوی
په ښکلی ننګرهار کښی په افغان بلبل افغان دی — دردمنداو بختانی دا چغارونه خوښوی

ښاغلی لیوال هم ددردمند په میه کښی لیوال آؤ بیل نظم ایکی - ښاغلی بیدار د چپرهار هم پخپلو خوږ و شعار و کښ ټول ادیبان دننګرهار ستائی - دشکر مقام دی چه دننګرهار ځلمو کښ داحس ورځ په ورځ په ډیریدو کښی دی - ځکه چه کوم قام کښی چه حس دهمدردی او جمعیت نه وی نو هغه په مړو حساب دی لکه چه یوادیب وائی :-

ورك شه هغه قام پکښی ننګ کینه غیرت نه وی — هم پکښی ماده دهمدردی دجمعیت نه وی
ورك شه هغه قام مړی دګور به تری بهتروی ډیر — قام کښی چه ځلمی د آزادی دمصلحت نه وی

بلبل افغان خو همدا غوښته چه پوشی او په وحدت ملی او ټولو مفاخر و کښی دټول قام نمونه حسن امتثال شی ! په سړو ! ننګرهار او ننګرهاریان خو هغه ځای او هغه خلك دی چه دپښتنو پلار (خوشحالخان خټك) ئی دپښتنو دجهاد اکبر په قصیده کښی دغسی ستائی :-

ایمل خان دریاخان دواړه مرګ ئی مه وی — هیڅ تقصیرو دواړو ونکړوار په وار
دخیبر دره ئی سره کړله په وینو — په کړ په ئی هم روان کړ دند و کار
تر کړبی تر باجوړه سمه غرونه — په لرزه په زلزله شول په بار بار
په هغه لوری چه کیږی پنځم کال دی — هره ورځ دسپینو تورو خر بهار

دغسی ننګرهار دی چه داورنګ زیب غل ، عالمګیر شهنشاهیت سره په دوه محاذه (خیبر او کړیه) پنځه کاله جنګیږی او هره ورځ دسپینو تورو خر بهار اوسمه او غرونه ئی په وینو رنګ او په لړزه او زلزله راوستی دی دغسی ننګرهاریان دی چه خوشحال خان خټك ددوی ژوند تل ترتله غواړی او وائی مرګ ئی مه وای - بلبل افغان عاجز هم پخپل نوبت دعا کوی چه ای ننګرهار او ننګرهاریانو ! څرنګه چه د خوشحال خان خټك دپښتنو د جهاد اکبر په قصیده کښی ممتاز مقام لری ، دغسی تل ترتله ممتاز او سرفراز اوسی آمین - دننګرهار په لویه موضوع بحث ، دستاسو ټولو کار دی - دی توده کښی سره مه راولی ! دننګرهار ګلونو ! تاسو هر چیرته چه یاستی دبلبل افغان زړه ستاسو سره دی او دزړه په سترګو مووینی :-

چه زړه نژدی وی غرونه څه وی — یوسف دمصر نه کنعان کښی ور ورلید نه

سمدلاسه په راتلونکی نظم سره ونیا لندوم او مخه ښه کوم بیا به ګورو ، (باقی په ۱۵ مخ کښی)



ښاغلي عبدالنبي عزيزي

زمونږ کاروان

شلمه پېړۍ ده خلك ورله طلائي قرن وائي : نړۍ د کوښښ داسمان له وخته ، د ترقۍ کاروان يوه روځ تر بله بيل بيل پړاوته ځان رسوي ، زنګوا چرس ئي ساعت په ساعت خفيف اوزموږ څخه ليرې کيږي .

دا کاروان دچادي ؟؟ - زه ئي پېژنم دا دهغه چادي چه دخپل ځان دپاره ئي دسفر انجام تړلي ، دمقصد لارئي کشف کړېده او ددې دريا به څخه ئي دپورې وتلو دپاره ټينګه او کلکه کښتۍ تياره کړېده .

هلئي ژرشي ! زموږ دمنزل دقطع کيدو دپاره موهم لويه بيديا په مخ کښې ده ، زموږ کاروان له دوی څخه ډير تر شادي او ددې ډاګ څخه وتل تلوار غواړي . زموږ دبستري بندونه سست اوپه اومړي تار سره تړلي دي .

هلئي ژرشي تلوار وکړيء او تلوار ! !

آيا که موداسي پيټي دروند پښي مولنډي اولا سونه بي حرکته وي ددوی تر کاروانه رسېدلای سو ؟؟ - دالويه بيديا اوفراخه دښت چه مونږ ئي په ستر ګو وينو خورالوي دي . نوهلي ژرشي ! ددې ربړاوخواريولره ځان چمتوپه کلکه او ټينګه سره له دي ډاګ څخه په بېړه ووځي چه تنده موهلاك اولوږه موله حرکته وانه چوي .

ووايا ست چه دا کاروان دچادي ؟؟

هو !! داهغه کاروان دي چه اوس ځانته نوې لارلټوي اودارتقااوترقۍ دمفهوم نکتې پلټي .

هو ! - داهغه کاروان دي چه دمخ پرلوجه باندي ئي دپښتون نوم ليکل شوي دي .

اې دجمله موجود او او کائناتو لویه خدایه !!

اې هغه خدایه چه دبشر تېر اورا تلونکی حقیقی سعادت ستا په امر اواراده پورې تړلی دی !!

اې هغه خدایه چه دټولو مخلوقاتو ویجاړه کارونه ته ورسموې !!

نوددې پاتې کاروان پرمخ تګ اوار تقا، ترقی اوتعالی، سعادت او کامیابی ستاپه امر اواراده پورې تړلی دی ستاد مقدس ذات و لوړ دربار ته مر دامید اوعاجزی غاړې کنږې او سر مودر ته ټیټ دی: په خپله مهربانی اولوی فضل دا کاروان دترقی ترمعراج پورې اوتر هغه ځایه چه زموږ حقیقی سعادت پکښې دی ورسوې .

(د ۱۲ مخ پاتې)

نظم

مبارك شهٔ ننګیالیه ننګرهاره
معجزه ده خارقه ده که نور څه ده
ستا دخاورې زیږیدلی اولادونه
ستا د توري امتحان کښې ده ستا یلی
ننګرهاری واړه زاړه دشپې دورځی
په قلم هم امتیاز قدامت ستا دی
ننګرهاره کوم صفت دی زه بیان کړم
دولس میاشتی کال په تا کښې سره ګلان وی
سمه اوړی غره کښې ژمی په یو وخت
اولونه خړو بیږی ستا له سینده
کبك دری مرغ زرین ستا په دور کښې
د کابل دهند و ستان او د کشمیر
ستا په ټ کښې په ډیرښه شان کوی ؤده
تل ودان اوسی منبع د نوا بغو
ملیت که قومیت دی که اعجاز دی

په قلم په توره د واړو کښې نامداره
زه حیران د ستا په خاوره تاثیر داره
تا ته نه راوړی بل څه بی افتخاره
خپل پر د یو په شان شان دخیبر لاره
ملا تړلی مسلح وی وخت له پاره
ورځ په ورځ دی اضافه شه وارد واره
صفتونه چه دستا دی زیات له شماره
هر موسوم کښې ستا هوا وی خوشګواره
لوړ ژوره د ستا یو ندی بیکاره
عالمونه دی ودان له هر رود باره
سارانی هوسی هر یو هزار هزاره
رنګا رنګ میوې او بوټی مزه داره
له ګلونونه نیولی تر اشجاره
ننګرهاره بیخزان همیش بهاره
مړ بلبل ئی کړ ژوندی سر له چغاره

غربي ادب

پښتو کونګی «مهذب»

عاشقانه لیك

زما ګرانې او په زړه پورې محبوبې! سره د هغه چه سعی لرم هیره دې کړم مګر بیا هم کله کله ستا په یاد لوېږم او ستا ښائسته او زیبا څېره او جذابه قیافه د خیال په هینداره کښې ګورم او ننداره ئې کوم. اما په دې نه راضې کیږم او د «خیال» په عالم کښې ستا تاوده لاسونه چه ستا د باحرارتو احساساتو یا پرمابا دې ستا د قهر نمایندګی کوی پلاسو کښې نیسم او ستا د شورانګیزو کتلو په کومك سره د «عشق» په کښتۍ کښې سپریږم او د «خاطراتو» په لوی سمندر کښې د «هجران» د نامعلومو سواحلو وخواته روانیږم.

* * * * * * * *

هغه وخت چه زما د ځوانی غوټۍ لا بیخې نه وه غوړیدلې، هغه زمان چه زما په سپینې لمن دولی مخو دمینې او محبت داغونه نه وو لګېدلی بالاخره هغه شپې او ورځې چه د «دوستۍ» توری او ګوری وریځې زما صاف او پاك زړه نه ؤرا ګیر کړی ما ته ویل کیده چه «عشق» وجود نه لری، مګر ما نه منل، عشق می دژوند کرمك او دوستی می دژوندانه اساس نه ګڼله، داسی خیال ؤ چه دوی غواړی ما خطاباسی او بی له ما د دی خدائی نعمته څخه بهره مند او متمتعه شی.

هو کی ومی نه منل کاشکی منلای می وای!

* * * * * * * * * *

زما ګرانی محبوبی، دوی وائی «د عشق آواز» چه د معشوقی د زړه د تارو څخه راوځی سرتر پایه دمین وجود تسخیروی او لکه د پاړو ګرانو د شپلی آواز چه مار ان داثر لاندی راولی ـ د عشق آسمانی سندری هم دمین روح او جسم په بند کښې اچوی او هر چیرته چه زړه ئی وغواړی را کاږی ئی

* * * * * * * *

دوی وائی پا که مینه (عشق) قهرمانان پیدا کوی او د رښتنی محبت داستانونه جوړولی دوی وائی د «معشوق» عاشقانه کتل وعاشق ته د زړه قوت ور کوی او د (یار) روح پالونکی نواز شونه هغه ته ثبات او استقامت ور کوی.

نوله دې کبله تاغوښته چه زه خوار اونوم ور کی سړی، زبون اوبی سیکه عاشق، بیچاره اوبد بخته زړه بایللی واقع شم ځکه ستامینه «عاشقانه» او ستانو از شونه او مهربانی «روح پروره» نه وه .

زما گرانی محبوبی، په هغو ورځو کښی چه ستاملالو ستر گو په اوله پلا کښی زه وریږ دولم او هغه وخت چه لکه فرمان وړونکی مریې می ستادمینی په وره کښی دتعظیم او تکریم سر ټیټ کړخیال می کاوه چه پرتا « گران یم » او ته به د هغوء ازغو څخه چه دمینی پدلار کښی پراته دی او چت گامونه را واخلې - تصور می کاوه چه ته به د غه پاکه او با حرارته مینه په صمیمیت سره ومنی او ته به دغه مقدس آرزو دزړه په ژورو ځایو کښې ورو زې اود (ازدواج) په نهال به ئی تبدیل کړی هو کې مادغسې فکر کاوه مگر افسوس څه باطل خیالونه .

* * * * * *

هغه شپی چه نوی ستاسره آشنای شوی وم . هغه شپی چه ورځی ئې زما دژوند انه بهشت وؤ ، دخلقو څخه لیری بخپله کو ته کښې کښیناستم او ستادسبادلیدلو په یادبه مې دومره ښادۍ کوڼې چه احساس می کاوه چه دآسمانی پرښتو غبطه پری کیږی او لا مارتین دفرانسی عاشق پیشه شاعر د (ژولی شارل) عشق چه دهغه گرانه محبوبه وه هیر کړی او دلۍ دډبری له چاود څخه وماته موسکی موسکی کیږی.

زما گرانی محبوبی! هغه ورځ چه می دخپلو ستر گو مرغی ستادعشق په جال کښې بنده کړه. تریوساده او (خوش باوره) موجود پورته یو شی نه وم - اوله دی کبله می تصور کاوه چه زما عشق ستالمړنی عشق اوستا مینه زما اولینه مینه ده . یعنی ترهغه وخته پوری دې بی زمادلاسه د (مهربانی) پیاله نده نوش جان کړی او ترهغه گړۍ غیر د ما ځنی دبل چا سره د «صفا» په گلستان کښې نه ئې اوسیدلې .

* * * * * *

خیال می کاوچه ستا گلالی باړخو گان دپاکی دلیل او پیچلی شوی و لولز لفې دی دراستۍ نماینده دی

تصورمې کاوه چه ستازهد واقعی اوشرم حیادې حقیقی ده ، ځکه دعشق په لمړنیو لحظاتو کښی چه لوی قوت او بااراده مړونه د پښو غورزوی ځان می ستاو عشق ته و سپاره او ستا عشق

مې ولوی خدای ته. هو کی باورو که چه نه پوهیدم چه تر هغه وخته پوری دې د « محبت » له بوستانه څخه گلونه ټول کړی او دعشق رائیحی دې څو څو ځله بوی کړی دی.

****

زما گرانی محبوبی! باورمی نه کاوه چه ستا دملیحی قیافی تر شا دومره اسرار پټ دی. ستا زړه لګیدلی او رؤ چه د « وصال » دشرابو په یوه یادوو جامونو نه خړوبیده، زړه می و نیول شو. خاطراتو می سره له هغه چه انتها نلری انجام وموند، دمات زړه ضربات می دمینی دورځو په یاد بیا ډیر شول. اما نور عشق او « وفاداری » زما په نظر کښی معنی او مفهوم نلری، عشق داسی گل دی چه په هر باد ر ژیږی او داسې اوردی چه په هر وابو خاموشه کیږی.

زما گرانی محبوبی ددې لیك دختمید وسره زموږ رابطه هم ترابده پوری قطع کیږی. که تر اوسه هم زما له عشقه څخه ضعیف نور ستا پر زړه ځلیده ددی لیك د لیکلو سره به خاموش شی، ته به دیر ځوان او مشهور میړه په خوا کښی او سیږی او زه دمرگ په انتظار درنځ او محنت شپې ورځی تیروم ته به ددی لیك په لوستلو ما هیر کړی او زه به دهغه په لیکلو تیرې شوی قیمتی ورځی په نظر کښی ژوندی کوم

* * * * * * * * * *

دالیك زما څخه په یاد گار وساته چه په راتلونکی عشقو کښی ستا هادی او راهنما وی ستا عشق لکه اوردی چه هر څو مره ډیر تیږوی هغو مره ډیر خطر ناك وی او هر څو مره چه نژدی شې هغو مره سوزونکی شی هغه کسان بدبخت دی چه پس له دې ددی اور په خوا کښی گرزی او دوصال په عزم دهغه په لوری وردرومی هو کی نژدی کیدل هغه او فنا کیدل هغه.

* * * * * * * * * *

زما گرانی محبوبی دتل دپاره له تا له تا بیوفا. له تا عاشق وژونکی، له تا جفا کارې ځنې خدای په امانی کوم، په داسی حال کښی چه تر څو ژوندی یم هیره به دی نکړم له تا سره خدای په امانی کوم په داسه حال کښی چه اوس هم غواړم خپل نفس ستا په پاك والی راضی کړم هو کی! ته پاکه ئی. ته سمه ئی زه په هغه باور لرم زه یم چه اشتباه کوم.

خدای په امان ای زما لمړنی او آخرنی عشقه خدای په امان ای دوفا څښتنه او د صفا رب النوعې خدای په امان هیله لرم چه دخپل میړه په غیږ کښی نیك مرغه او بختوره شې مامه هیر وه چه نه دې هیروم

(ژان روسل)



ښاغلی لو نگین

توده وینه

ستا دستر گو په توده نگاه قسم خورم — دخپل سوی زړه په وا ویلا قسم خورم
چه له سره ئی ځان ویلی کړو تر پایه — ددی مینی په توده دنیا قسم خورم
چه سورمخ کښې ئی دسرو وینو طوفان دی — دریدی دزړه په کربلا قسم خورم
چه له سوزاو له گدازه خالی نشو — دمجنون دزړه په عشق وفا قسم خورم
د مینو د لجو ئی چه ورسره ده — دسپوږمۍ په دغه ناز ادا قسم خورم
چه زما دزړه بڼ گی پری تازه کیږی — ستا د زلفو په وږمه اشنا قسم خورم
کرشمی چه دی دنازه راښکاره کړی — د هوس په اعتلا گدا قسم خورم
در گوهر می شوی اوښی له چشمانو — په سپیڅلی مینه ستا لیلی قسم خورم
چه دور ځو ومحراب ته ئی سجده شی — په خمارو ستر گو دلربا قسم خورم

یا به یا تی له پښتو اوننگ ونام شم
یا به ستا مینه ترسره کړم گلفام شم

دا بشار په شرشرو می دی قسم وی — ستا د مینی په چړچو می دی قسم وی
دبیلتون په تاریکو می دی قسم وی — دالفت په اندیښنو می دی قسم وی
په امید او په آرزو می دی قسم وی — د وصال په خزانو می دی قسم وی
په تیرو غشو بڼو می دی قسم وی — په اوربل زلفو لمدو می دی قسم وی
هم په صبر او اثر می دی قسم وی — ستا دمخ په وسوسو می دی قسم وی

په ژړا لمدو بار خو می دی قسم وی — په محراب ددوه ابرو می دی قسم وی
دشهید په وینو سرو می دی قسم وی — په دانه دانه خالو می دی قسم وی
د عزت په مرتبو می دی قسم وی — د ذات په کړیدو می دی قسم وی
په غمزو او کرشمو می دی قسم وی — په در نو در نو کتو می دی قسم وی
په وږمه د گلو سرو می دی قسم وی — د بلبل په ژړیدو می دی قسم وی
دسپهار په خندیدو می دی قسم وی — په غرمه د شونډو سرو می دی قسم وی

یا به توری خاوری لحان باندی ایار کړم
یا به جړ پښتو نستان لحانته گلزار کړم

گواهدا نو په دعا باندی قسم خورم — د مینو په سودا باندی قسم خورم
دمو جو نو په غوغا باندی قسم خورم — د بی وزلو په دنیا باندی قسم خورم
یتیما نو په ژړا باندی قسم خورم — د گلرخو په جفا باندی قسم خورم
په همت د احمدشاه باندی قسم خورم — په غیرت د شیرشاه باندی قسم خورم
دمیرویس ننگ وحیا باندی قسم خورم — د سرو وینو په فضا باندی قسم خورم
خپلواکی په ابتدا باندی قسم خورم — یا که مینه د بورا باندی قسم خورم
په گلگون شفق بیگا باندی قسم خورم — د آزاد بندی سبا باندی قسم خورم
د برقونو په صدا باندی قسم خورم — په لحلمو د پښتو خوا باندی قسم خورم

یا به خلاص آزاد بندی ستاله زندان کړم
یا به سری وینی قربان له خپل جانان کړم

په رنگونو د گلزار می دي قسم وی — په انداز د خوږ بهار می دي قسم وی
په دلبر او په دلدار می دی قسم وی — هم دوریخو به اشکبار می دی قسم وی
دخپل پلار نیکه به چار می دی قسم وی — په خدمت دخپل مالیار می دی قسم وی
په رانلونکی دندو کار می دی قسم وی — صداقت او په ایثار می دی قسم وی
پخوانیو په گفتار می دي قسم وی — دسپین مخ په اشتهار می دی قسم وی
دمنصورغوندی پهدار می دی قسم وی — ناز ولو په دیدار می دي قسم وی
په تیره توره تلوار می دي قسم وی — په پښتون بابا اویلار می دی قسم وی
قومیت په افتخار می دي قسم وی — د امام په اقتدا می دی قسم وی
دفانی روح پهرفتار می دي قسم وی — په پښتون اوپښتون یار می دی قسم وی

یا به لحار په قومیت باندی رښتین شم
یا به دوب په خپلو وینو لوتگین شم

پېغله مستوره

داسمار له شال خخه

دوینو خاخکی

څه ژړا فریاد دی هري خوا ته په جهان کی نن
یاتی طراوت نه دی پو ګل ته ګلستان کې نن

ورك اثر د اوښکو د یتیم دی و ینې ژاړی تل
اخلی ظالمان خو ند د مظلوم آه فغان کې نن

وریخ دا سویلو وینم خوره دشین آسمان په مخ
و ینې د شهید و را تو ټیټری په باران کې نن

سوز او عاطفه سینو کی نشته زړونه سخت شولو
ځکه اثر ورك شو دخوږو نغمو بوستان کې نن

اوښکې دبی و زلـو دی الماس دځینو غاړو کې
وینې دمظلومو دی زیور گرهر گریوان کې نن

اور د تجاوز لمبی وهی د خوار غریب په سر
وینم دو زخونه دسره او ر ډك په جهان کې نن

لاړ عدالت انصاف جهان نه بـه ما تم ئې زه
سو زم لکه شمع د شهید مزار ستان کې نن

زه یم همنوا د بـلبلانـو د چمن ځـکـه
ښکاری مې دزړه وینې دشمر ګلستان کې نن

ښاعلی فهیم

خلور ریځی

سپو ږ می ګډ ښړی ستوري خارو دی
نظر ی ګـو ره نکهت پر یشان دی

ساقی و بده شراب په جوش دی
دې ښخو دی له مې زړه حیران دی

❀ ❀ ❀ ❀

کاروان دحسن په لیږد بد و دی
ځـکه ې کـیفه د زړه ر بات شو

عشق لـه حسن ، حسن لـه عشقه
ژو نـد دیـوه . د بـل حیات شو

❀ ❀ ❀ ❀

کاروان دحسن ، متاع نا زو نه
خو مره ر نګین د غر و ر دا ګ شو

خو د بد مستی . خو انی له لاسه
کیر پا بمال خ ؟ حسن هم دا ګ شو

❀ ❀ ❀ ❀

تارد نظر کښې چه ستو ری ښکېل شی
بیغلاې د شپې ته ، غا ړې اوبل شی

د چاد تو رو ز لفو په خیا ل کښې
زړه هـم لـه مانه مـرور بیل شی

❀ ❀ ❀ ❀

هغې سا زه نـو ی نغمه کـړه
انداز د نا ز ئې لا جا نا نه دی

دمی پرستو ستر ګـو لـه کـیفه
زاهد لوټ شو ی په میخا نه دی

❀ ❀ ❀ ❀

دساده حسن ر نـګین اثـر دی
چـه مې رنګینه د خیال د نـیا شوه

دبرندو ستر ګـو مراو و کتو نـه
پـه زړه نا ز لـه سخنه بـلا شوم

زه خوئې وایم

عبدالروف «قتیل» خوږیانی

که خوک مې ښه ګڼي که بد دغه وینا لرمه
د ملي ژبې سره مینه مدعا لرمه
په ملي ژبې غږ بدل ده وظیفه د پښتون
امام د دې ژبې پسې زه اقتدا لرمه
چه ځان پښتون بولي او ژبه د پښتو نه منی
دا نوم دې نه خرابوی ترې تمنا لرمه
بې له پښتونه پښتو نواله هیڅ معنی نلري
په تش نامه د پښتو نوالی کښې ګنا لرمه
هیواد زمونږه په معنی کښې د پښتو مسکن دی
مګر افسوس چه تری اکثره نا اشنا لرمه
تش په نامه د پښتو نوالی به پښتون نشي څوک
پښتو ن له ځاره وسیله دغه تنها لرمه

که څوک مطلب لري چه ځان کړي پښتنو سره مل
پښتو روزل پښتو منل په ژبه دا لرمه
ی غیر له دی نه دی نامه د پښتون نه بده وی
خوشی د نګر دی د تهمت پنډئی سزا لرمه
دغه قانون دی هر ملت چه په کوم نوم یا دیږی
د هغی ژبې عا میدل په کښې روا لرمه
پښتو اساس د پښتو نوالی دی پښتو نه ور وره
زه بې اساسه عمارت آخر تالا لرمه
د پښتو قدر زه «قتیل» له پښتنو نه غواړم
یوا ځنی ار زو همدا په دی دنیا لرمه

«ښه دی ښه دی چه په سل ژبو دانائی»
«ولی مه کنږه نادان د خپلی ژبی» (مستغنی)

ډېنا غلی سیفی ترجمه

له ثقافت الهند څخه

کلیله او دمنه

(۲)

داهغه نعمت دی چه یه دی نعمت دانسان انسانی مقام اوډېرېږی اوانسان دی جګ نعمت یه وسیله جګو مقامونو ته رسېدلی شی ؛ داهغه ښېګڼو سیندی چه انسان یه دی سیند کښې ورګډ شی نو او و لویو سیندنو او یه نتیجه کښې بحر عظیم ته رسېږی ، یه دی موقع کښې چه څښه ویلی دی چه علم یه انسان کښې حلم پیدا کوی او حلم د انسان عقل او معقولیت زیاتوی او عقل او معقولیت دانسان ثروت ډېروی او ثروت د کاملو انسانانو دینی عقائد ټینګوی او دین دانسان دسعادت او نیکمرغی پوره او یو لخنی ضامن دی ،

لحینو پیاوړو پوهانو علم یه دوو برخو ویشلی دی ، چه وقسم ئې دمغزی یه اصطلاح کښې یه (شستر ودیا) یعنی حربی فنونو او ل قسم ئې یه (شاس ستر ودیا) یعنی ادبی فنونو یاد ېږی دغه پوهان دا عقیده لری چه دوهم قسم ئې دلومړی قسم څخه ډېر اشرف دی او دا لحکه چه لومړی قسم خپل خاوند دخجالت سره مخامخ کړی او دالحکه چه دحربی چارو مهم اساس بدنی قوت دی او هر کله چه دانسان قوت یا حربی فنونو کښې تحلیل اودی ددېر عمر او کمزوری شی نو د مقابلې او دخپل فن دنورو چارو او نظریاتو دعملی کولو نه عاجز شی او یه نتیجه کښې ده ته پرته له خجالت او ناامیدی څخه بل هیڅ شی پاته نه شو لیکن دوهم قسم دلومړی قسم یه خلاف خپل خاوند تر آخره پورې معزز او محترم ساتی لحینو پوهانو دعلم دغه وروستی قسم ستر ګو سره دمشابهه کړی دی او ویلی ئې دی چه لکه څنګه چه یه ستر ګو اجسام لیدلی کېږی یه علم بې اسرار او حقائق لیدلی کېږی او یه دغو ستر ګو دغه شیان لیدلی کېږی چه مادی ستر ګې هغه قطعاً نشی لیدلی او هر څوک چه دغه ستر ګې نه لری نو هغه دوندد ، او دوندو یه ډله کښې شمېرلی شی . دغو پوهانو داهم ویلی دی چه جاهد یعنی هغه علم چه دوخت او زمانی دتقاضا سره سم رفتار نشی کولی نو دغه راز علم یه ځای ددې چه انسان ته ګټه ورسوی دانسان دپاره مضر ثابتېږی یا دی لرکښې (وشنو شرما) هغه علم ته یه ښه ستر ګه نه ګوری چه هغه دانسان دترقی موجب نشی او هغه جاهد او دعصر او زمانې دایجابا تو سره سم ټکی نشی کولی او یه انسان کښې د تعصب او عنودت جذبات پیدا کوی بلکه نومړی مؤلف دخپل کتاب یه وروستنی برخه کښې ویلی دی چه هغه پوهان چه تل پلټنې او خېړنې کړی او تل دخپل علم یه تکمیل کښې بوخت وی او حقایق راتولوی دهغوی دقول دصافی بلورې ښېښې مثال لری چه دلمر دپلوشو یه اثر ئې لارونه زیاتېږی او ډېرېږی .

نومړی مؤلف داهم ویلی دی چه دسلونا پوهو او ښی علمه لحامنو څخه یو پوه او هوښیار زوی ډېر ښه دی او دالحکه چه یه پوه سپوږمۍ او یا یو لمر نړی روښانه کېږی لیکن یه زرګونو ستور و هیڅ نه کېږی او نه دهغو لحای نیولی شی ، عالم انسان که یه هرشکل او صورت وی محترم دی ، او دنا پوه انسان مثال دلیندې دارګی دی چه که دهر خومره ښه او ښکلی لرګی څخه جوړه شوې وی خو نر خو چه ژی ور باندې نوی اچولی شوی نو هغې کوم اثر نشی پیدا کولی او داسې هم ویلی دی چه علم الحیات یعنی دژوند انه علم انتهاء لری که څه هم انسان ډېر مدون کتابونو ولولی لیکن سره ددې هم نه کمیلېږی ، دی دانظریه لری چه دانسان عمر دومره

اوږدنه دی چه ټول علوم یکښې په پوره ډول تکمیل کړیشی نو په دی صورت کښې باید د خپل علم د تکمیل دپاره د مثبتو حقایقو اقتباس وکړی او د علومو اساسی مبادی او اصول زده کړی او د فروعاتو څخه ئی صرف نظر وکړی.

دی دا مفکوره هم لری چه ټول علوم او معلومات په کتابونو کښې نشی موندلی نو له دې کبله باید انسان په ځمکه کښې سیاحت وکړی او نړۍ په خپلو سترګو وګوری او د نړۍ په چارو کښې تجربه حاصله کړی په دې ډول د انسان علم او انسانی رشد تکمیلیدلی شی د تاریخی معلوماتو سره سم د نومړی کتاب د تالیف په وخت کښې هند یو تجارتی مملکت ؤ او خارج ته به د هندوستان ډیر مصنوعات لیږل کېدل او په دغه موده کښې د هند تجارت په روما کښې تر دې اندازې ډیره ترقی کړې وه چه د روما ځینو مفکرینو سره د دې خبرې ویره پیدا شوه چه که دا وضعیت په دې ډول دوام وکړی نو زموږ ملت به خوار شی لکه چه په دې مسئله « بلیتی » د روما مشهور لیکوال په دې مضمون یو شکایت کړی ؤ چه د روما خلک په ډیر زیات مقدار هندې مالونه اخلی چه په یو کال کښې د دغو مالونو قیمت (١٠٠،٠٠٠،٠٠٠) سیستریز کېږی. نو له دی کبله دا کومه نا آشنا خبره نده چه د کتاب خاوند د تجارت او د مال د اهمیت په پوره ډول اندازه کړی او تجارتی په پاچاهانو پورې متصل ذکر کړی او ویلی ئې دی چه هر څوک چه مال لری هغوی ملګری او خپلوان لری، او د مال خاوند انسان دی او همدی عالم دی؛ او هر څوک د مال خاوند نه ځان ورنژدې کوی و په خدمت کولو ئې ویاړی، او د بی ماله انسان خپل خپلوان دښمنان شی او بدور سره کوی.

نو موږی مؤلف تجارتی بازارونه په (٧) لارو ویشلی دی :-

١- د عطریاتو یعنی خوشبویه شیانو تجارت.

٢- په ګټه روپۍ ورکول.

٣- مالونه او څاروی ساتل

٤- اخیستونکو سره آشنائی او دوستی ساتل او دا د دې دپاره چه آشنا په قیمت کښې جګړه نه کوی.

٥ — ډیره سرمایه په کار اچول.

٦ — په وزن او مقدار کښې کموالی کول.

٧ — د خارج نه لوښی راوړل.

له دې پورته ویش څخه دا خبره معلومېږی چه هند به عطریات او دغه ډول نور شیان خارج ته صادرول او د خارج څخه به ئې لوښی وار دول.

نو موږی مؤلف دا خبره هم څرګنده کړې ده چه لکه څنګه چه حیوانات د ډول په ډنګو لونه مری همه غه راز ثروت د بتانو په پرستش لاس ته نه راځی بلکه ثروت د جسد یعنی بدنی زیار او کار او عمل په اثر لاس ته راځی او همدغه راز کامیابی په کار پورې تړلې ده نه په تشو هیلو پورې او څنګه چه ښکار دویده زمری خولې ته پخپله نه ورننه وځی همدغه راز مال هم د انسان جیب ته نه ورننوځی.

د پنچ تنترا مؤلف بی حرکته او بی زیاره قضا او قدر ته هم پاښه سترګه نه ګوری. او د دی مفکورې سره چه ځینې خلک په ځای ناست وی او هیڅ کار او عمل نه کوی او دا وایې چه څه تقدیر وی هغه به کېږی هیڅ موافقه نه لری بلکه دی دا راز خبرې دلټو او بیکار و خلکو فلسفه ګڼی دی دا سې عقیده لری چه ثروت او کامیابی د هغو خلو برخه ده څه هغوی د قضا او قدر د عقیدې سره سم د عمل او مجاهدې میدان ته ورګرېږی او د قضا او قدر او توکل په مرسته هیڅ قسم مشکلاتو ته اهمیت نه ورکوی بی د حرکت او



په دې عکس کښې جلالتماب راجندرا پرشاد له سردار نجیب الله خان
په (دهلی کښې دافغانستان لوی سفیر) سره په هغې مېلمستیا کښې
چه د نوموړی سردار له خوا د جوزا د (٦) ورځې په احترام
په دهلی کښې دافغانستان په لوی سفارت کښې ترتیب شوی وه
لیدل کېږی

عمل نه نش د قضا او قدر په طمع بی کاره کښېناستل د لټو او بیکارو خلکو کار دی او د صحیح انسان داوظیفه ده چه خپل زیار او کوښښ او مجاهدې ته ادامه ورکړی او که دی په خپله مجاهده کښې ناکام شی نو باید دی متأثر نشی او په مختلفو لارو خپله مجاهده وچلوی .

نوموړی مؤلف دامفکوره لری چه لکه څنګه چه مارغه په یو وزر نشی الوتلی همدغه راز خط هم بی دعمل څخه نشی تر سره کېدلی، خط څه شی دی؟ ستاهغه کارونه او زیارونه دی چه تا په خپل تیر عمر کښې کړی دی، نو په دی اساس تا دپاره دا خبره لازمه ده چه ته لټی او کسالت یوې خوا ته کړی او مجاهدې ته ملاو تړی. او په دی حقیقت ځان پوه کړی چه که ستا په مخ کښې یوه خزانه پرته وی نو دغه خزانه تر هغې ستا کېدلی نشی تر څو چه ته دهغې په خوندی کولو او په ځای کولو کښې زیارونه باسی .

دغه مؤلف داهم ویلی دی چه دناکامی په اثر دمجاهدې او عمل څخه لاس مه اخلی او مه ناامیده کېږی او دا ځکه چه ناامیدی او مایوسی کفر او د ابدی مرګ سره مرادف شی دی او تر څو چه همت ستاملګری وی نو ستا ناکامی به ارومرو په کامیابی بدله شی پوه انسان هیڅکله زړه نه اچوی او دمصائبو په مقابل کښې نه مغلو بېږی بلکه په دغو شیانو ئې عزم او همت زیاتېږی او انسان تل د خپل ذکاوت او عقل او تدبیر او زیار په مرسته په مشکلاتو بریالی کېږی

دانسان دپاره دا خبره ضرور او لازمه ده چه دزیار او عمل سره عقل او تدبیر ملګری کړی او هر څوک چه دمشکلاتو په مقابل کښې عقل او تدبیر سره یو ځای کړی او تدبیر او زیار او عمل دلاس نه ونه باسی نو ددې کار په اثر لکه شادو غوندې دډک سیند نه ځان روغ او سالم پوری باسی .

لکه څنګه چه د کامیابۍ دپاره عقل او زیار لازم دی همدغه راز زړه ورتیا هم د کامیابی دپاره یو ډیر ضروری شی دی او دا ځکه چه بی زړه انسان قطعاً کوم کار ته اقدام نه کوی او که اقدام وکړی نو د ناکامۍ له ویرې ئې زر پرېږدی ځینې دارا زخلک شته چه هغوی یو کار ته اقدام وکړی لیکن چه ناکام شی نو فی الحال ئې پرېږدی او په لومړۍ صدمه کښې دهغې کار څخه لاس واخلی .

دی د اهم وائی چه کوم خلک چه په غم او خوشحالۍ کښې دهغوی عقلی او فکری توازن نه خرابېږی هغوی په عمومی ډول دمصائبو او مشکلاتو څخه په امان دی .

دی دا مفکوره لری چه عامل او زیار ګالونکی خلک دژوندانه مستحق دی او همدوی دژوندانه حق لری او همدوی په ټولنو کښې د قدر او احترام وړ دی ، او په حقیقت کښې حقیقی ژوندی هغه شخص دی چه په خپل ژوند کښې یو لوړ مقام ته ورسېږی که څه هم دغه لوړ مقام یو لحظه هم دوام وکړی د یوهانو په نظر کښې په حقیقی معنی ژوندی هغه څوک دی چه هغه دعلم او شجاعت او شرافت او ثروت خاوندوی، کارغه که څه هم ډیر اوږد عمر لری لیکن چه مو دارې خوری نو هیڅ قیمت نه لری؛ حقیقی ژوندی هغه څوک دی چه دهغه ژوندون دنورو ډیرو خلکو دژوندون او حیات سبب وی او داسی نه وی چه لکه دمارغانو غووندې تل دخیټې په غم اخته او لالهانده یوی خوا او بلی خوا ته منډی وهی او تل مښؤ که دخپلی خیټی دپاره ښوروی .

دی داهم وائی چه هغه شخص چه په خپلو هیزولو او امثالو کښې دبیرغ په شان ځان ښکاره نه کړی نو داسی کڼلی شی لکه چه دهغه مور خوشی دهغه په روزنه او لویولو کښې خپل ژوند او ځوانی خاورې کړې ده او هغه

پالوان چه خپل قوت خلکو ته ښکاره نه کړی دهغه مثال دهغه اور پشان دی چه په ایرو کښی پټ پروت وی او کوچنیان او هر څوك ورباندې لوبې کوی او په سپك نظر ورته ګوری .

پنج تنتر اددغه عصر دخلکو او پاچاهانو نقشه په دې ډول تصویر کړی او په دغه کتاب کښی ئې لیکلی دی چه علم دپاچا دربارته د رسیدلو ښه ذریعه ده ، ددغه عصر خلکو دا عقیده درلوده چه کوم اشخاص چه د مشر او یا دپاچا په خدمت کښی مری هغه به جنت ته ځی .

په دې لړ کښی ئې د بلادو د سیاست او دپاچاهانو دفضائلو بیان ورپسی اوږد کړ دی او ددښمن په مقابل کښی ئې د حربی حیلو او ددفاع په طریقو مفصل بحث کړی دی او د پاچا د محافظه کولو او ساتلو په شا او خوا کښی ئې دا مضمون لیکلی دی : چه د پاچا د حفاظت دپاره کلا لازمه ده او کوم پاچا چه د خپلې کلا محافظه او ساتنه نه کوی هغه د دښمن ښکار کیږی او بی دفاع پاچا دهغه مار په شان دی چه د ځان د ساتلو دپاره سوری نه لری او یا دهغه فیل او هاتی په شان دی چه زوړ شوی او دقوت څخه لوېدلی وی ؛ او یوه کلا دزرو فیلانو څخه ډېره ښه ده .

دی مؤلف دې بحث ته ادامه ورکړی او داسې ئې ویلی دی چه کوم وزیر چه دپاچا اسرار نه ساتی هغه ګویا پاچا بی توری حلالوی ، دی هغو خلکو ته چه په دربارونو او یا نورو مجلسونو کښی کښینی دا راز توصیه کوی کرم خلك چه دپاچا په دربار کښې او یا نورو مجلسونو کښی کښینی او حق نه وائی او په دروغو او خوشامندو وخت تیروی دهغه سزا داده چه له دغه مجلس څخه وشړلی شی . او کوم خلك چه دحق څخه ددفاع په مقابل کښی دمال او جاه په طمه او یا دپاچا له ویرې ډډه کوی هغوی ته دوزخ وازه خوله نیولې وی ، او کوم پاچا چه دخپلو رعایاو څخه مدافعه نه کوی او دهغو درفا او سعادت دپاره کار نشی کولای دهغه مثال دشنډی مېږی وی چه دهیڅ مرض دار ونده .

او کوم مشر چه مامورینو ته ئې خیر نه رسېږی دهغه عاقبت ډیرو خیم وی او دهغه اتباع دهغه څخه داسې نفرت کوی لکه څنګه چه داغزنې ونې څخه مارغان نفرت کوی

په دغه پاچاهی دوره کښې ښځه ډیره مقهوره او سپکه او مظلومه وه نو له دی کبله ددی کتاب خاوند دی ته په دی مضمون نصیحت او توصیه کوی چه بایددا دخپل خاوند یوه وفاداره ملګرې او میربانه نوکره او خدمت ګاره وی ، او دا ئې هم ویلی دی چه له کومی ښځی څخه چه خاوند رضا او خوشحاله وی ټول معبودان له هغې څخه رضا وی او خپله مهربانی ورباندې کوی . او کومه ښځه چه دخپل مېړه اطاعت نه کوی دهغې څخه ټول معبودان نارضا او ددوزخ په اور کښې به (٣٥،٠٠٠،٠٠٠ کاله) په عذاب اخته وې نو موړی مؤلف دښځو په تحقیر کښې دهغې مفکورې په آساس چه په هغه وخت کښې ئې دخلکو په مغزو کښې ځای درلود داسې وائی چه دیوې ښځې جنسی رغبت دسلو تنو نارینه ؤ در غبت سره برابر دی ، او لکه څنګه چه اور په خشاك او بحر په سیندونو او مرګ په نفوسونه مړیږي همدغه راز ښځه په نارینه ؤ نه مړیږی او په ښځو باندې داعتماد نه کولو په خصوص کښی ئې داسې ویلې دی چه دا خبره واوری او وئې منې چه په ښځو کښې عفیفه ښځه نه پیدا کیږی مګر هغه ښځه چه خوشی ځای او مناسبه موقع په لاس ورنشی او یا ئې بل څوك خریدار پیدا نشی . او نارینه ؤ ته دنصیحت په توګه وائی چه دښځو سره ډیر اختلاط مه کوی او بیخی خوشې ئې هم مه پرېږدی ، او مه ئې خپل اختیار ته پرېږدی ، او دا ځکه چه ښځه په کمزوری

اوضعیف النفس سړی داسې لوبې کوی لکه څنګه چه واړه په بې وزرو مارغه لوبې کوی او په خپلو چارو کښې ورسره قطعاً مشوره مه کوی ستاسې یوا ځینی وظیفه داده چه دې ته ډوډۍ او جامه ور کوی .

دښځو له دی احتقار ونه وروسته وشنو شرما داراز توصیه کوی چه دښځو سره مهربانی کوی او دفاع ورڅخه کوی او دائی هم ویلی دی چه د کوچنی او ښځی او بیرهمی وهل لویه ګناه ده او دخپل مشر ښځی او برهمنی څخه دفاع د جنتیانو کار دی او څوک چه دغه کار په خلاف اقدام وکړی باید دهغه ځینې اعضاء غوڅ او پریکړی شی .

له دې پورته مطلب څخه څرګندیږی چه په هغه عصر کښې هم دځینو جرائیمو په مقابل کښې دبدن داعضاؤ پریکولو رواج درلود لکه چه په دغه وخت به د کوم خیانت په مقابل کښې خوند داحق درلود چه د ښځی پزه او یا غوږ پریکړی .

همدغه راز ددې مؤلف د کتاب څخه داهم څرګندیږی چه په دغه عصر کښې ښکلې ښځې دپاچاهانو او بډایانو دپاره مخصوصې وی او هغه ښځو به ددې ډول ښځو محافظه کوله چه هغوی به په حربی فنونو کښې مهارت درلود لیکن سره ددې به هم ځینو نور خلکو هوجومونه کول او دغه شکلی ښځې به ئې تښتولې او ددې کار دپاره جلاقوانین وضع شوی وو لکه چه ددغو قوانینو په اساس نوموړی مؤلف لیکلی چه هرچا چه دخپل معلم او یا دخپل دوست او یا دخپل مشر او رئیس او یا دخپل نوکر ښځې ته بد کتل هغه داسې ګناه ده لکه چه یو برهمنی ئې وژلی وی .

نوموړی مؤلف د کتاب څخه داهم معلومیږی چه په هغه وخت کښې توکې او فضولې خبرې کول ډیر لوی عیب ګڼل کیده او په دی خصوص کښې ئې دارار نظریه ښکاره کړې ده چه توکیان خلک په خپلو خبرو کښې خلکو ته خپل رذالت ښکاره کوی او تښې خبرې په خلکو هیڅ تاثیر نشی کولی .

ده په خپل کتاب کښې داهم ویلی دی چه قسمونه خوړل هم ددروغو دډیرو قسمونو څخه یو قسم دروغ دی نو له دی کبله باید تاسې ددښمن په قسمونو باورونه کړی .

دپنچ تنترا کتاب دهنه په خلکو کښې ډیر زیات ښه تاثیر لری او هم دا سبب دی چه دهند دخلکو اکثر متلونه له دی کتاب څخه اخستی شوی دی لکه چه دنمونې دپاره یو څو متلونه په دی لاندې کرښو کښې ذکر کوو .

دبی عقل دوست څخه هوښیار دښمن ښه دی . تجربه د تعلیم څخه ډیره ښه ده . علم هغه چاته ورزده کوه په هغه د علم صلاحیت لری .

طمع دتو لوبلا ګانو سر دی .

ضمیمه :

مولانا محمد حسین آزاد په دربار اکبری کوهسی لیکلی دی ، کلیله او دمنه اصلاً په سنسکرت کښی وه دا کتاب نوشیروان له هند نه وغوښت او دهغه وخت په فارسی ئی ترجمه کړ .

دعباسیانو په وخت کښی په بغداد کښی به عربی ترجمه شو — دسامانیانو په وخت کښی رودکی په نظم کړ . بیا ملاحسین واعظ کاشفی په متعارفه فارسی واړاوه (انوار سهیلی) ئی وبا له — مګر ځکه چه عبارت ئې سخت ؤ نو اکبر مغولی شیخ ابو الفضل ته وویل چه له اصل سنسکرت څخه ئې بیا ترجمه کړه او په ساده ژبه ئې ولیکه هغه په (۹۹۶ه) کښی دا کار سرته ورساوه —

کلیله او دمنه خوشحال خټک په پښتو کړی ده او د عیار دانش نوم ئې پرې ایښی دی دغه شان افضل خان خټک هم دعلم خانه دانش په نامه پښتو لیکلی ده —

دښاغلی نورمحمدخان «تره کی» ترجمه

له ریدرز دایچست څخه

دژوند کولو هیله

ډاکتر (ارنولد ۰ ای هتسچنیکر) چه دامریکې یولوی اوپیاوړی ډاکتر دی او ۲۵ کاله دطب په عالم کښی تجربه لری یو کتاب (دژوند کولو هیلی) ترعنوان لاندی لیکلی دی ۰ دې پوه عالم بهدی کتاب کښی (پرصحت اود عمر پراوږ دوالی باندی دفکر اواحساساتو اغیزې) تهپه زړه پوری تشریح ور کړی دهاوپه ډیرو اوږ دو تجربو ورته ثابته شوی ده چه دعمر خوږ والی اواوږ دوالی دسړی پهخپل فکر اواحساس پوری بشپړه اړه لری اودهغه چاژوند خوږ اوپه زړه پوری وی چه د(ژوند کولوهیله) ولری. ریدرز دایچست مجلی چه پهامریکا کښی په انګریزی ژبه چاپیږی اوپهملیونولوستونکی لری ددغه ډاکتر ددی کتاب یوهبرخه چاپ کړی دهچه زهئی دخپلو ګرانو لوستونکو دګټی اواستفادی دپاره پهپښتو ترجمه کوم ۰ ددی کتاب معرفی بهصرف دهغه تقریظ په یوه جملهٔ وکړم کوم چه یوه بل لوی عالم اوپوه (ډاکتر فرانسس) پر دی کتاب باندی لیکی دی : «دایو داسی کتاب دی چه هر ښاغلی ئی لوستلای شی اوله هغهنه دخپل صحت اوژوند په ښه والی کښی بشپړه استفاده کولای شي ۰ په دی کتاب کښی هغهاساسی مشکلات توضیح شوی دی له کومو سره چه اکثره خلك مخامخ دی»

«نور محمد تره کی»

* * *

یوې ډیرې زړی ښځی چهخپل ټول عمر ئی پهښوونه اوروزنه کښی تیر کړی و دا ډول قصه وکړه: زهیوه پلا دخپل عمرپه نیمائی کښی ډیره سخته ناروغه شوم او دا ناروغی می ډیری خطرناکی مرحلی تهورسیده ۰ یوه ورځ چه له مرګ اوژوند سره لاس په ګریوان وم دوې نوری ملګری می پښتنی ته شفاخانی تهراغلی مګرچا نژدی نه راته پریښودی. دې دوو ښځو څخه یوې دی بلی ته پهدل چسپی وویل چه «ارمان کهیوه پلا مونږ دې ناروغی ته وررسیدلی وای اوداموپهدې پوهولی وای چهمونږ ددی ژوند تهڅومره احتیاج لرو او ددی

وجود مونږ ته څومره ضروردی» دا وینا زما غوږ ته راورسیده. په داسی حال کښې چه په وجود کښې می دمرګ اوژوند قوتونو غیږ سره ورته کړې وه نا بوبر ه دغی وینا دژوند هیله قوی کړه او داهیله ئی راژوندی او خوراغښتلی کړه. ده ژوند او مرګ په دې سخته اووروستنی جګړه کښې دغی وینا زما زړه ته قوت ورکړ او په نوې هیله او قوت می بیا دا جګړه شروع کړه

که مونږ رښتیا غواړو چه ژوندو کړو او که کوم شی له مونږ سره وی چه دهغه دپاره ژوند کړو نو په دی صورت کښې به د ژوند کولو هیله یوه داسی قوی وسیله شی چه دهر ډول ناروغی اومات ؤ ګرډو سره به مجادله و کړای شي.

په هرانسان کښې دري خورا پیاوړی قواوی شته: یوه دژوند کولو هیله او بل د ځان بربادولو خواهش!. دژوند کولو اوباژوندی پاته کیدلو لوی سایق دادی چه په ځان کښې دنوی کارود کولو اودایجاد اواختراع اودمهمو کارونو دانجامولو هیلی او خواهشونه خلق کړو! (دژوند کولو خواهش اوهیله هغه وخت لانبه ثابتیږی چه یو د اکثر د یوې بحرانی ناروغی په حالت کښې ووائي چه «ماخو هغه څه چه کولای شوو می کړل. مګر اوس نو پخپله دناروغه سړی کاردی چه د ژوندی پاتی کیدو هیله لری که یه؟»

دځان ویجاړولو خواهش اوهیله که څه هم دهغه پروجود پوهیدل دومره آسانه کارنه وجود لری یعنی داقوه چه خپل ځان پخپله خراب کړی په هرچا کښې شته. مګر په هغه پوهیدل څه مشکلات لری داوینا مونږ ئې وایو «پلانکی دخپل ځان دښمن دی» په هرچا کښې لږ او ډیر حقیقت لری. اوبالقوه یوه رښتنی وینا ده.

که یو څوک پخپله خپل ځان په توپک وولی نو دا خود ځان دبربادولو اومحوه کولو دپاره ښکاره اوواضح اقدام دی چه هر څوک ئې وینی اوپرې پوهیږی. مګر یو بل سړی بیادغه ډول اقدام یعنی ځان بربادول په داسی توګه کړی چه څوک ئې نه وینی اوخپل ځان په تدریج او ورووزو تباه کړی اوبربادوی، یعنی خپل زړه خوری ترڅو چه خپل سر پخلپه وخوری.

یوه ورځ یو په عمر پوخ سړی راغی چه له ۳۰ کلو راهیسته ئې دنس له خوږو شکایت درلود. ده وویل چه که زه له دې خوږونه خلاص شوم دابه لوی سعادت او خوشبختی وی.

ماورته وویل چه که سهارته را کتبینستلی اودا خوږ دې ورك شوی ؤ اوته رك روغ وې نوبیابه ته څه وکړی؟ ده راته وویل «داخربه، ډېرښه شی اوزه به له ژوند نه خوند واخلم» ماورته وویل چه څه ډول اوڅه خوندبه ترینه واخلې اوڅه به وکړې؟ دی تیز شو اووئې ویل «زه به لکه دانور خلك له ژوندنه خوند وا خلم.»

دې ناروغه تردې اضافه کوم تشریحات نشو ورکولای. ده کرم پلان، هدف نه درلود اونه ئې د کوم داسی کار کولو هیله اوخواهش درلود چه هغه کارده ته اهمیت او قیمت درلودلای. ده له (۳۰) کالورا پدې خوا خپل ژوند دهمدې نس خوږی په شا ؤ خوا کتبی جوړ کړی و اودهمدې درد په سیمه کتبی ئې دخپل ژوند ځاله ودانه کړې ده. په معا ملاتو اورا کړه ور کړه کتبی به دده ملګرو دده دطبعیت احترام ساته اوهم به دده د کاله غړیو په دې نسبت دی چه ناروغه دی دده مراعات کاوه.

کوم وخت چه به دغه سړی له دفتر نه کور ته راته نود ښور وا یوه ډ که توده کاسه به ورته کتبیښودله شوه. که چاله ده نه د نس خوږ لیری کړی وای کوا کی ښور واددغه توده کاسه ئې ځینی ایسته کو له خوله دغه ښور واسره ده دومره عادت نیو لی ؤ چه له هغه سره ئې مینه اوعشق موندلی ؤ. یه اده دغه نس خوږی ته احتیاج درلود یعنی په دې برخه کتبی دومره ډوب شوی ؤ چه اوس ئې له دغه ناروغی نه رغیده نه و، اوله دې سره چه تولو دده دناروغی په نسبت له ده سره مراعات کاوه مینه پیدا کړې وه او دا ئې نه خوښوله چه دیوه روغ اوجوړ سړی په ډول خپل اجتماعی مسئولیتونه پر ځای کړی. په بل عبارت داسړی لکه نور ددیری مودې ناروغان اومړی دخپل احساس او تلقیا تو په نسبت په عذاب کتبی و اوپه دوهمه مرحله کتبی د نس له خوږو په عذاب و. ده خپله تخریبی قوه دننه پخپل ځان کتبی دخپل ځان پرضد ګمار لې وه.

ډېر ناروغه کسان چه ددا کترانو په دفترو نو یسی ئې ستر ګی څلور کړی وی دخپلی ناروغی په جوړیدلو باندی که څه هم ددا کترانو له خوا ډېر کوشش ډېر شری وی کامیاب شوی ندی. دا ډول کسان ځان په ډول ډول ناروغیو اخته ګڼی. ځنی ځان ضعیف احساسوی او ځینی له بې خوبی نه شکایت لری. دځینو لینګی، اوزی اوملاخوږیږی

ځینی عصبانی او کاږی واړی وی. مگر دا ټول شکایتونه اساساً په یوه موضوع کښی دی یعنی ټول خپل ځان خورا درانه ستړی او کوټلی وینی.

دغه راز شاکیان اکثراً دحسدیارشك په ډول دځینو نورو افرادو نومونه اخلی او وائی چه پلانکی خورا ښه په اشتها مړی خوری او چه مځکی ته لانه وی رسیدلی بیا په درانه خوب ویده شی او خورا تازه او قوی ایسی مگر مونږ نه ډوډۍ خوړلای شو او که یو څه وهم خورو له بده مرغه را باندی وغمیږی چه له خوب نه را پاڅیږو تر هغه ډیر ستړی یو کوم وخت چه په بستر ننوزو.

دا ډول ستړی او ستومانی ښځی او نر په دې باندی نه پوهیږی چه قوی. اشخاص له ځانه ډیر قوت نه پیدا کوی بلکه خپل قوت په مناسبو اوښو لارو باندی مصرفوی شاکی اشخاص اکثراً خپل قوت او قدرت پر خوشی چټی لارو باندی هغه هم د ځان دبربا دولو دپاره له لاسه باسی او مثال ئې دا ډول دی لکه یوه ډکه واله چه په شگه کښی ورکیږی او یاد والې او به چه پخپله واله ئې وزښی. لیکن په دې باندی دوی باید وپوهیږی چه قوه ورکیدلای نشی دا د طبیعت قانون دی چه قوه نشی ورکیدلای. نو ددوی قوه چیرته تللې وی؟

دا ډول ناروغان چه د ډاکټرانو له خوا معاینه شی ځنی ئی د مرض نوم یوشی واخلی او ځنی نورئی بیا بل شی. که دیوه ناروغه دیوه مرض علاج وشی دغه ناروغه بیا یوه بله ناروغی راباسی. یعنی په بل مرض اخته شی. نو ددی د دومره ناروغیو او ناروغانو علت څه شی دی؟ آیا ددوی انرژی دځینو داخلی جگړو په اثر له خپلی اصلی مجراء نه اوښتی وی؟

یو سړی چه له خپل ځان سره په مشاجره اخته وی داسی دی لکه په یوه مملکت کښی چه داخلی جنگ روان وی. دا سړی په خپل ټول قوت سره په خپل ځان کښې دیاغی قوی په مقابل کښی په جگړه لگیا وی. دغه راز سړی اکثره ډاکټر ته د مرستی او علاج دپاره مراجعه کوی خو ډاکټر دده د مرستی دپاره په هغومره اندازه ناکامه وی څومره چه دی پخپله پکښی ناکامه وی. تر څو چه دغه ناروغه او دده معالج ډاکټر ددې ناروغۍ په علت پوه نشی او د ناروغه د داخلی قواؤ د تصادم سببونه ونه لټوی دا سړی به روغ ونه وینئی او دده د داخلی قواؤ د مشاجری په اثر به لوی تاوانونه ورته ورسیږی.

یوه ورځ یوه ښځه ماته راغله او پریشانه دڅوکۍ پر یوه څنډه کښینستله او په خو را نامیندۍ ئې داسی وویل چه «پر ډیرو ډاکټرانو و گرزیدم ! او هیڅ ښه می نه پرې وشوه. شاید دوی هم زماله علاج نه مایوسه وی .»

دا ښځه له ۱٤ کلورا هیسته ناروغه وه . دهر مرض ډاکټرته ورغلی وه او هر ډاکټر ددی ناروغی په بیل بیل ډول تشخیص کړی وه . هر ځلی هر ډاکټر ددې یو مرض ورمعالجه کړی و. خوسمدلاسه به بل شکایت وروړاندې شو . مثلاً که به ئی د سر خوږ معالجه شو بیا به دنس په خوږ اخته شوه چه هغه علاج به ئی و شو بیا به د بی اشتها ئی دځان دخوږ و در دور پیش شو .

ځکه چه دا ښځه دخپل واده تروخته پوری کلکه وه ناروغه شوی نو ما ددې دمیړه او کور کهول حال ترینه وپوښته . دې وویل چه میړه می ډېر ښه سړی دی او په خپلو عادا تو کښی هم منظم دی . دی مقنن دی او له خپلی وظیفی سره هم ښه مینه لری. په هفته کښی څلور شپی کلوپ ته ځی او هلته خپل ساعت تیروی . دوه ماشومان لرو. ورو سته له واده ما صحت هیڅ وخت د سره ښه شوی نه ولکه دغه ماشو مان چه مې په نس کیدل. بیا می له میړه سره ددی ښځې د کور داری په خصوص کښی ور نه پښتنی و کړی .

« نور بیا »

د پښتو قصې

دیارسره هم پنج

یوسړی و چه ډېر پو روږی شوی ؤ اود پور ورو دلاسه بیخی پوزې له ر اغلی ؤچه سهر به شونو په دروازه کښې به ورته دوه درې تنه نیغ ولاړوو. چه ډېر تنګ شونو یوه و رځ یوه دوست له ورغی اود قرضدا ر انو دلاسه ئی ورته سر تندی و تـکاوه اوورته ئی وویل چه څه لا راو رو ګودر راته وښیه؛ چه ددې قرضدا رانو څخه خلا ص شم . هغه ور ته وویل چه چادر څخه پور غو ښته، ته ورته وایه پنج' نورهیڅ موایه !

یوه و رځ ورته دغه خپل اشنا وویل: چه زما دربانديې څو روپۍ دی ؟

هغه ورته وویل پنج' ده ورته وویل: «چه دهر چا سره پنج ! نود یارسره هم پنج»

دا ګز او دا میدان

یوسړی په یوه مجلس کښې وویل: چه ما په هندو ستان کښې شل ګزه توپ وهلی دی خلک ټول حیران شول یوبل ته ئی و کتل چه دا څنـګه سړی دی؟ چه شل ګزه توپ ئی وهلی دی شل ګزه توپ خودانسان له طاقت نه بهر دی .

دیو سړی پرې یقین راغی چـه دی خـوشی دروغ وایې نوپاڅید' ګـزئی راواخیست او ورته ئې وویل :

دا ګز اودامیدان'' یعنی که رښتیا دوهره نرئې اوشل ګزه توپ وهلی شې نودا ګز اودامیدان؛ ته توپ ووهه اوهونبر به ئې ګز کړو ' چه دروغ اورشتیا دې اوس معلوم شي. خبره چـه رشتیاوته راغله؛ نود هغه سړی په هغ خولې راماتې شوې او رنـګ ئې زیړ وتښتید. خـله چه شل ګزه توپ ئې پلار هم نشو وهلی .

خېټه خودې خپله وه

یوه ورځې یو سړی دچاخیرات ته لاړ، هلته ئې ډوډۍ ډېره کړه. هغه وخت په ځان نه پوهیده؛ خوچه کورته راغی خېټه ئې وپړسیده اولکه شناز ډډه خېټه پریووت. یو بل سړی راغی تپوس ئې ترې وکړ؛ چه داولی؟ ده ورته وویل چه خیرات له تللې وم او ډوډۍ مې ډېره کړې ده. هغه ورته وویل «چه خیرات پردی ؤنو خېټه خودې خپله وه!

دګېډې علاج

یو رنځور یو ډاکتر ته راغی او دګېډې له خوږ څخه ئې ورته شکایت وکړ ډاکتر ورته وویل: چه بیګاه دې څه شی خوړلی وو؟ ده ځواب ورکړ صاحبه! بیګاه مې سوې ډوډۍ خوړلې وه ـ ډاکتر ورته وویل چه ځه! ته لاړ شه اول دستر ګو علاج وکړه نو بیا راشه دګېډې علاج دې کوه !!

د جولا پوښتنه

وائې چه یو جولا ناجوړه شوی وه، نو نور جولاګان عزیزان ئې پوښتنې ته ور غلل او تپوس ئې ورنه وکړ چه فلانیه! څه ناجوړه ئې او کوم ځای دی خوږ ېږی؟
ده ورته وویل: په کوم ځای مې چه عزیزانو ګوتی کښېښودی!! ـ

سم ځواب

شاګرد. استاده! دا ښکاری چه ښکار کوی نو یوه ستر ګه ولې پټوې؟
استاد: که دواړه ستر کې پټې کړی خو هیڅ به ونه وینې
شاګرد: دا چرګ چه دمه کوی نو یوه پښه ولې پورته کوی؟
استاد: که دواړه پورته کړی خو پرې به وزی.

ساده گان

یوڅوتنه ساده گان په مالګه پسې هندوستان ته تللی وؤهلته‌ورسره چاتو که کړې ده چه هر کال څله ځان کړوی چه په مالګه پسی راځی خوسبز کال در سره ډیره مالګه یو سئی او هلته ئی وکرئ نوشنه بدشی ، او په یو وار به ئې لغمه خلاص شئی . ددوی هم یقین راغی چه یره رښتیا ده هر کال ورپسی را ځواوځان کړوؤددی نه خودانبه ده چه داپیره دځان سره ډیره یوسو او هلته ئې وکرو ، نوددیر کړ اوڅخه به‌خلاص‌شو ، کوم‌وخت چه واپس را تلل ، ډیره مالګه ئی واخیستله‌او دځان سره‌ئی وطن ته راوړه . دلته ئی بیا په ښه انتظام سره په پټو کښی وکرله ، څو ورځی پسته په هغو پټیو کښی‌ورښه ، شموخی اودیلې شنی شوې یوه ورځی پوسړی ورغلی دی گوری چه‌پټی شین‌ډنډ ولاړ دی. خیال‌ئی راغی‌چه خدایبزو مالګه‌خو شنه‌شوی ده په منډو منډو کلی‌ته راغی په‌خپلو ملګروئی‌زیری‌و کړچه‌مالګه خوشنه‌شویده بله‌ورځ کوم یو د پټی تماشی‌ته ورغلی دی ، گوری چه‌په پټی کښې‌ملخان‌او نور حشرات گرځی را گرځی‌دی ډیرپه‌هیبت او سا نیولی کلی‌ته‌راغی اوخپل نور ملګری‌ئی‌خبر کړه‌چه‌په‌مالګه مو‌ملخان عادت شوی دی‌او توله‌ئی خلاصه کړه تول راتول شول اوتړه‌ئې و کړه‌چه سبابه ور پسی ځو چه څه علاج ئی وکړو . چه‌سباشو تولو توپکونه غاړوته واچول اوپټی ته روان شول پټی‌ته چه ورسیدل نو یوبل ته‌وائی ! چه گوری‌ء شورموربه نه کوی: هرچاچه ملخ ولیده اوپه خپله‌ئې نشو ویشتلی نو شپیلۍ دی‌وهی اویو بل تن ته دی اشارت کوی چه‌هغه‌ئې وولی دوی‌ښه گرم‌شوی‌دی‌تک اوتو ک‌خیژی چرته‌چه ملخان وینی‌ډزپری کوی په‌دی کښی یوملخ راوا لوت اودیوتن په مری کیناست دمیوبل تن‌ته شپیلی وکړچه دغه‌دی ملخ هغه ورته توپک سم کړ ، دواړه ئی‌سپینه خیټه واچول ملخ ئی‌هم وویشت او سړی ئی‌هم مړ کړ په‌دی صورت ددوی‌نه پکښی دوه دری تنه واگیدل ، جنګ چه خلاص شو اوبیرته کلی‌ته راغلل نو چا ترینه پوښتنه وکړه‌چه څه‌چل موو کړ؟ دوی ورته‌په جواب کښی وویل : چه‌څو موددوی نه‌تل کړل اوڅه‌ئی زمونږنه تل کړل یعنی څه موددوی رامړه کړل اوڅه‌ئې زمونږنه!!

دژرندې مزد

یوسړی پراوښ باندې غنم بار کړل او داوړو کولو دپاره ئې ژرندې ته یوړل. پخواله دې نه ئې بیخی ژرنده په ستر کو هم نه وه لیدلې چه ژرنده توره وی که سپینه نو کوم وخت چه ژرندی ته ورغی له اوښ نه ئې بار کوز کړ او دغنمو څټه ئې دژرندې په ناوه کښې واړوله غنم ئې تول او بو یوړل لږه شپه وروسته ژرندی ته ور ننووت ژرنده کړی ته ئې وویل چه زما! وړه را کړه ماستا په ژرنده دانې اړولی دی هغه ورته وویل : چه لیونی ئې که په خود ؟ بنګ دی وهلی دی که چرس دی څکلی دی نه دې له دانو خبریم او نه دی له اوړو نه دی هك پك پاتی شو چه داڅه چل وشو ؟ بهر چه ووت چه خپل اوښ و ګوری هغه ترې هم چاپټ کړی ؤ، نه ئې اوښ و نه ئې اسباب « نه تخته وه نه سوباری » تش کوتك کورته روان شو ،چه کور ته ورسید ، چاتر ینه تپوس و کړ چه اوړه دی څه کړل ؟ ده ورته وویل: چه هغه خورانه او بو یوړل ، بیائې ورته وویل چه خیر نو اوښ دی څه کړ ده ورته وویل چه هغه خوئی را نه په مزد کښې واخیست !!

درمضان وژل

وائی چه یو څوتنه ساده کسان یو ملا ته ورغلل ملا ته ئې وویل چه موږ ته دا! رمضان وښیه، چه په کوم ځای راخیژی چه مونږ ور شو او مړئی کړو :

ملا هم ور سره تو کهو کړله او ورته ئې وویل چه د هاغه کندو په سر را خیژی دوی ئې د ځان سره توپك وا خیست ، او لاړل د کندو په سر کښی کینا ستل په دې منځ کښی یو ه اوښه اوجونګی کنده وته راوختل . دوی وویل چه خدا یږو رمضان خو هم دادی ، اوښه ئې هم وویشتله اوجونګی ئی هم ورسره مړ کړ ، په خوشحالی خو شحالی کلی ته را غلل ملا ته ئې وویل چه ملا صاحبه رمضان خو مړ کړ ملا صاحب وویل (لاحول ولاقوة) دوی ورته وویل چه ملا صاحب هغه (لاحول ولا قوة) مو هم ورسره مړ کړ !!

ای ښځې خوی غو ښتل

یو سړی یو بزرګ ته ورغی ورته ئې وویل چه ما ته دعا و کړه چه خدای خوی را کړی هغه ورته وویل ! چه ښځه دی شته دی ؟

ده ورته وویل چه ښځه مې وای نو تا ته څله راتلم ؟ !

طالبان او شیخ

وایی دیو کلی په یو مسجد کښی خوتنه طالبان اوسیدل، طالبان په مسجد کښی مسافر نه پریږ دی او بیا په تېره شیخان ـ یوه شپه جماعت ته ناوخته یو مسافر راغی دغه مسافر د کوم بزرګ او مأذون شیخ ؤاوږ دی تسبې ئی به لاس کښې وې او سپین څادر ئې پر سر ؤ چه جماعت ته راننوؤت طالبانو تری پوښتنه وکړه چه میلمه د کوم ځای ئې؟ ده ورته وویل چه دپلانی ځای طالبانو ورته بیا وویل چه څوک ئی ؟

نوده ورته د خپل پیر نوم واخیست چه زه د صاحب مبارک سپی یم طالبانو ورته وویل چه کوري شه وځه دا جماعت دی مونږ دلته د خدای سپی نه پریږ دو پاتې لا د صاحب مبارک سپی ته ول ورپسې راپورته شول او شیخ بلا پیش ئې له جماعت نه وویست .

مناره

په یو ځای کښی یو ه لوړه مناره ولاړه وه نو یوه ورځ پرې درې تنه کم عقلان را پښې شول او منارې ته حیران ودرېدل چه دا څنګه جوړه شوې ده؟ یو ه وویل چه په پخوا زمانو کښې څومره جګ جګ معماران ؤوچه دومره لویه مناره ئی جوړه کړې ده ؟

بل وویل ګوره دې بی عقل ته داخوئی کوهی راوښکلی دی او نیغ ئی درولی دی، دریم ئی وویل چوپ شه کم عقله داسې نه ده داخوئې په ځمکه جوړه کړې ده او بیا ئی نیغه درولې ده!

ښه او بده

په یوه دښته کښی کوچیانو کېږدۍ وهلی وې نو یوه شپه ډیره واوره وورېده سهر چه خلک راپاڅېدل گوری چه وطن ټول دواورو ډک دی او څوک قدم نه شی اخیستلای؟ کیږدۍ والا چه سهر را پاڅېدل اور ئی بلاوه اور نه ؤ یو هلک ته ئې وویل چه لاړ شه اود هاغې بلې کېږدۍ نه لږ اور راوړه هلک غریب سر تور سر اوپښی ابل روان شو زامې ئی رېږدیدلی او کېږدۍ ته ورننووت هلته اور بل ؤ گوتی متی ئی تودی کړی بیائی وویل: چه زه خوابۍ په اور پسې را ولیږم نود کور خاوند ورته وویل چه ولی گو گړ مو گړ در کړه نه و، هلک ورته وویل چه دټلو ډک دبلی ایښی ومگر ابۍ ویل چه اور راوړه او دا گو گړ به کومې ښې بدې ته په کار شی .

پیسو ته کوڼ نه یم

یو سړی په لار روان دی یو بل سړی ورپسې کاکا ناري وهی مگر دی ورته غږ نه کوی په آخر ئې ورته غږ کړ چه کاکا دا پیسی درواخله! هغه چه د پیسو واوریدل مخ ئې راو گر ځاوه چه هان څه وائی ؟ ده ورته وویل چه ته خو تر اوسه پوری کوڼ وې اوس دې څنگه غوږ ونه خلاص شول ؟ دة جواب ور کړ چه پیسو ته خو کوڼ نه یم دا غږ خو هر څوک او ری !

والمراد بالټکوك آخر الټکوك

وائې چه یو طالب یو کتاب نقل کاوه، د نقل په وخت کښې ترې یو ټکی پاتی شوی ؤ نو هغه ټکی ئی د کتاب په څنډه ولیکه یوه شپه پس ئی فکر و کړ چه دا ټکی نو اوس څه معلومیږی چه د کوم ځای دی نو د ټکو قطار ئی ورته جوړ کړ یعنی د ټکو کر ښه ئی ورو ستله بیائی سو دا شوه چه دا به اوس څه معلومیږی چه کوم ټکي مراد دی ؟ نو د هغه ټکي دلاندې ئې ولیکل چه او المراد بالټکوك آخر الټکوك ،

پردی خط کتل

یوسړی خپل دوست ته خط لیکه بل سړی راغی او دده په څنګ کښې کښېناست ددې سړی داعادت ؤ چه چا به څه لیکل ده به لوستل، نو ددغه سړی خط ته ئې هم دستر ګولاندی کتل هغه ورته له حیا نه څه نه ویل او ده له خط نه ستر ګی نه اړولی اخر لیکونکی پوه شو چه دغه سړی ما خط ته نه پرېږدی نو په خط کښې ئې ولیکل چه زه دیوسړی له لاسه خط نه شم لیکی او نه می پرېږدی چه مخصوصی خبری درته ولیکم نور دعا وسلام نو دغه سړی ورته لګیا شو هر څه چه لیکی لیکه زه خوستا خط ته نه ګرم !

چینګ داړی

یوسړی ؤ چه همیشه به ئې داړی چینګی وی چا چه به ورته کتل خیال به ئې ګاوه چه راته خاندی یوه ورځ یو آشنا په مخه ورغی نو آشنائې خیال و کړ چه دی راته خاندی نو ده هم ورسره په خندا شروع و کړه آخر دی په خندا ستړی شو او دهغه خو له هماغسې چینګه وه چه پوه شو نو ورته ئې وویل چه ته خو چینګ داړی یی او زه دې له خندا مړ کړم

دبوډۍ غوا

وائی چه دیوې بوډۍ کره غوا ورننوتله په یره کټوۍ کښې اوړه پراته ووسرئې پکښې ننویست او پکښې ونښت غوا په کوټه کښې اوتره اوتره ګرځېده چه په دې کښې بوډۍ کورته راغله ګوری چه غوا ده مګر سرئې دبلادی وډا ریده او په منډه لاړه او خلك ئې را خبر کړل چه دخدای دپاره زما کره بلا راغلې ده په دې کښې د کلی مشر دبوډۍ کره راغی ګوری چه غوا په کټوۍ کښې سرننویستلی دی نو بوډۍ ته ئې وویل چه پروا مه کره دا غواده مګر سرئې په کټوۍ کښې نښتی دی بوډۍ وویل چه اوس په دا کټوۍ څنګه راخلاصه کړو؟ ده ورته وویل چه وا رخطا کېږه مه غوا به حلاله کړو او کټوۍ به ترې راو کاږ وبوډۍ وویل چه ډېره ښه ده نو غوائې را څملو له حلاله ئې کړه مګر سرلا هماغسی په کټوۍ کښې بند دی بله چاره ئې ونه لیدله نو مجبور شول او کټوۍ ئې په تیږه ماته کړه « تنبه هم لاړه اوسو باړی هم » په دې وخت کښې

دغه سپین زیری یو ځل وخندل اوبیائی وژړل چاورته وویل چه کا کا داودې خندل ځنګه اوبیادې وژړل ځنګه؟ دهورته وویل چه ومې ژړل ځکه چه زه به ترڅو ژوندی یم اوتاسوته به عقل ښیم اوومې خندل ځکه چه هم غوا حلاله شوه او هم کټوی ماته شوه!

دتادی کار

دیوسړی مورمړه شوه نویه کفن پسې ښارته لاړسړی چرسی ؤ په یوځای کښی دچرسو په چلم ونښت او د خپلې مور مړی ئې له یاده وووت دوه درې ورځی پس چه کورته راروان شو په لاره کښی ئی تیندك وخوړاو راوغورځید نوله ځان سره ئی وویل چه دتادی کار خودې سروخوری!!

په دواړه جهانه اور

وائی چه دیوې ښځی ډېر ساړه شوی وؤ اویخنی وار خطا کړې وه نو چاورته ښه اوربل کړ اوداپرې تږده شوه بیاترې چا پوښتنه و کړه چه ادې! اورمزه و کړه او که نه؟ دې ورته وویل چه ځویه! خدای مې دې په دواړو جهانونه بې اوره کوی!

ځوانی لټوم

یو سپین زیری سړی په لاره ټیټ ټیټ روان ؤ شائی کړوپه وه یوځوان په مخه ورغی پوښتنه ئې ترې و کړه چه باباڅه شی لټوې؟ دهورته وویل چه ځوانی لټوم ځوانی!!

غل سپی شو

وائی چه یوه شپه دیوه سړی کره سټی ننووت اولوښی موښی ئی کړ پول د کاله خاوند یقین و کړچه دا کوم غل دی نوزرئې له کټ نه راودانګل اوخدای خبرچه د کو موزمانو یوه زنګ وهلې توره ئی راوا خیستله د کوټی په بر ګوټ کښی ودرېد او داسی لګیاشو: تاماته دڅه خیال کړیدی وځه او که نوی اوس به در باندی کلی را خبر کړم چه ونډی ونډی دې کړی ده چه هرڅومره ګرانبونه و کړل مګر دسپی هماغسی کړپ کړوپ خوت دی لا حیران شو اووېرې واخیست چه اوس څه چاره و کړم په دی وخت کښی ګوری یو سپې په دوازه وووت نوشکرونه ئی و خکل اووئی ویل شکر دی خدایه چه له دې غله خودې سپی جوړ کړ اودسپی په شکل دی واړاوه! (۱)

---

(۱) له عربی نه ترجمه

دوطن جریدې او پښتو

۱- داصلاح او انیس په ورځپاڼو کښې چه کله کله پښتو سرمقالې خپرېږي دخو ښې او خوشحالۍ خبره ده پښتو ټولنه ددغو ورځپاڼوله ښاغلو مدیرانو څخه خو ښې کوي وداعلانونو دپښتو په صحیح کولو کښې ورڅخه زیاته توجه غواړي.

۲- دحقوقو میاشتنۍ مجلې چه دپښتو ټولنې دغوښتنې سره سم پښتو مقالې نشر کړي دي پښتو ټولنه ورته په دې کامیابۍ تبریک وایي او همدغسې ئې په دې برخه کښې موفق غواړي.

۳- دعرفان د مجلې دسرطان په ګڼه کښې دپښتو یوه مقاله هم ونه لیدل شوه مونږ ددغې مجلې له پښتنو قلمي اعضاو او ملګرو څخه هیله کو وچه دعرفان او پوهې په خپرولو کښې دپښتو وبونکو په حال هم زړه وسیزي او په پښتو ژبه کښې دوی ته ښې ښې مقالې وړاندې کړي.

٤- په غیر رسمي اخبارونو کښې یواځې (اولس) د پښتو او فارسي موازنه ساتلې ده او پامیر او نیلاب په دې برخه کښې بې موازنې معلومیږي. امید دی چه دغه اخبار و نه به هم دبرابرۍ ډنډه له لاسه ونه غورځوي او د اساس او خپل اعلان سره سم به دپښتو برخه هم مخ په وړاندې بوځي.

(اداره)

دپښتو ټولنی نوی کتابونه

پښتو قاموس

دپښتو قاموس اول ټوك په ښه ښکلی قطع په (٦٦٨) مخو کښی
له چاپ څخه نوی راوتلی دی چه د پښتو ژبی دلغاتو
یوه لویه پانګه لری - دپښتو مینان
دی له پانو ځای څخه واخلی .

نوی ژوند

دا کتاب هم په تېر کال کښی دپښتو ټولنی له خوا په ښائسته صورت چاپ شوی دی
دپښتونستان دپیژندنی په باره کښی غوره اولنډ معلومات لری
ښه انتخابات اوښی ترانې هم پکښی شته
په لږ قیمت له پانو ځای څخه
لاس ته درتلای شی .

خوشحال خټك څه وائی؟

دا کتاب چه دخوشحال خټک پر ویناؤ یوه خوږه تبصره ده په تېر کال
کښی له چاپ څخه راوتلی دی حروف ې غټ او طبع ئی ښایسته
ده ښایی چه له پانو ځای څخه ئې واخلیء

دعبدالحمید ښکلی خوندور

دیوان

له چاپ څخه راوتلی دی د پښتو ژبې دا قیمتی اثر او دناز کخیالی دفتر
له پانو ځای څخه په ارزان قیمت واخلیء

کابل پښتو ټولنی مطبعی کښی چاپ شو